# د اسلام په رڼا کي

# معاصر

# بانکي مسایل

Ketabton.com

ليکوال

ډاکټر مصطفی "نیازی"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

|||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: داسلام په رڼا کي معاصر بانکي مسایل

لیکوال ::ډاکټر مصطفی نیازی .

خپرندوی :: مخزن الکتب پېښور پاکستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاۍ والصلام على خير خلقه سيدنا ونبينا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين وبعد:

پرته شك له نه چي نړۍ پدي وروستيو كي دومره پرمختګ كړي چي د بشريت په تاريخ كي ساري ندي ليدلي شوي، او كه په درسته توګه ووايو نو دوروستۍ پيړۍ په اخري څلورمه كي دڅوند په بيلابيلو ډګرونو كي دومره ترقي او پرمختګ شوي چي دبشريت په ټول تاريخ كي ندي شوي، او دغه پرمختك دڅوند اقتصاديو، كلتوري، ټولنيزو او سياسي ټولو چارو ته شامل دي، نن له دنيا څخه يو كلي جوړ شوي، كه دنړۍ په لري پرته سيمه كي كومه پيښه رامنځته شي نو په څو دقيقو كي خبر ټولي نړۍ ته رسيږي، دغه رنګي اقتصادي چاري دومره پرمخ تللي چي دټولو خلكو سوداګري يو له بل سرهj تړلي ده، اقتصادي وده او پرمختګ هغه څه دي چي ځواكمن هيوادونو ئي دنورو داستعمار لپاره كاروي، په معاصر وخت كي دهيوادونو ترمنځ شخړي او كشمكشونه ټول په اقتصار را څرخي، او د مسلمانانو له كمزورتيا نه راپديخوا او په ټوله كي داسلامي خلافت له نړيدو څخه وروسته په نړۍ كي ددوو اقتصادي نظامونو ترمنځ سيالي رواني وي چي يو ئي لويديځ سرمايه داري نظام و، او بل ئي ختيځ سوسيالستي نظام و، چي دپخواني شوروي اتحاد له سقوط څخه راپديخوا وروستي اقتصادي نظام په نړيواله كچه خپل حيثيت تر ډيره بريده له لاسه وركړيدي، مګر ددي په څنګ بيا اسلامي اقتصاد دپام وړ برياوي لاسته راوړي، چي اوس مهال دسرمايه داري نظام او اسلامي اقتصادي نظام ترمنځ شخړه روانه ده، لويديځوال زيار باسي چي خپلي اقتصادي پاليسي په اسلامي نړۍ كي هم پلي كړي او لدي لاري وكولاي شي دهغوي شتمني لاسته راوړي، چي غوره بيلګه ئي دامريكا له لوري په اسلامي هيوادونو يرغل دي، ځكه دګڼ شمير سياست پوهانو له انده ددغو يرغلونو او بريدونو تر شاه اقتصادي موخي او اهدف دي، خو ددي ټولو پرمختګونو او شخړو سره سره څه ډول مونږ (مسلمانان) كولاي شو داسي اسلامي اقتصاد رامنځته كړو چي پخپلو پښو ودريږو او دنورو له محتاجي څخه خلاص شو، پدي ډګر كي يو هم دبانكونو مسله ده، په معاصر وخت كي دغي مسلي لويديځ ته ډير څه ورپه برخه كړي، ځكه مسلمانو شتمنو هم خپلي شتمنۍ دهغوي په بانكونو كي ايښي دي، او ترينه ګټه لاسته راوړي، ديادوني وړ ده چي استعمار دمعاصر نقدي (پيسو) نظام څخه دوه برياوي لاسته راوړي، يو داچي پيسي د سرو او سپينو برعكس خپل ارزښت له لاسه وركوي او له يو كال نه بل ته ډيري تيتيږي نو دغه كړنه ددي لامل ګرځي چي خلك سود ته مخه كړي او هغه ارزښت چي پيسو له لاسه وركړي په ګټه ئي پوره كړي، او له بلي خوا ځواكمن هيوادونه چي كله غواړي يو هيواد تر خپلي ولكي لاندي راولي نو داقتصادي بنديزونو سره ئي مخ كړي چي دغه كړنه خپله ددي جوګه كيږي چي دهغه هيواد پيسي وغورځيږي او بيا ددي وړ نوي چي مقاومت وكړي، مګر ددي ټولو ستونزو برسيره پدي وروستيو كي يو شمير مسلمانانو داسلامي بانكونو دجوړوني هڅي اوهاندي پيل كړيدي ترڅو پدي سره له يوي خوا مسلمانان د ناوړه عمل سود څخه وژغوري، او داسي ګټه دهغو پيسو په مقابل كي وركړي چي په بانكونو كي ږدي چي دسودي بانك دګټي څخه كه ښه وي خو كمزوري نوي، او له بلي خوا وكولاي شي چي دمسلمانانو شتمني چي اوس مهال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلويديځ په بانکونو کي ده ځانته را جذب کړي او دغه کړنه به پخپل وار سره داسلامي هيوادونو اقتصاد ته دپام وړه پرمختيا ورپه برخه کړي، البته اوس اسلامي علماو دنده لري چي داسلامي شريعت په رڼا کي داسي لاري چاري ولټوي چي بانکونه ئي پرته دسود نه وکاروي او فايده ئي دسودي بانکونو په پرتله بهتره وي، نن سبا ګڼ شمير مسائل دي چي نويو پلټنو او اجتهاداتو ته اړتيا لري تر څو دولس هغه ستونزي هواري کړي چي هره ورځ ورسره مخامخ کيږي.

له الله پاك څخه سوال کوم چي ددي موضوع په ليکلو کي توفيق راکړي او داسي څه تړولني ته وړاندي کړم چي دهغي دبهبود او پرمختيا لامل وګرځي، او په ترڅ کي زمونږ هيواد وال وکولاي شي داسلامي شريعت مطابق داسي بانکونه پرانزي لکه په يو شمير هيوادونو کي چي اوس پرانستل شويدي او ښې پايلي هم لرلي دي.

ډاکټر مصطفی نيازي

26 /5 /2006دجمعي مبارکي ورځ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مضاربت او دهغي دمشروعيت دليل

مضاربت يوه عربي كلمه ده چي له (ضرب) څخه اخستله شوي، او هغه د تگ (سير) په معنى راځي دغه نوم لدي كبله ورته اخستل كيږي چي مضارب په اكثر وخت كي دخپل تجارت دگټي پخاطر سفركوي، يا پدي معنى چي په گټه كي دمضارب او دمال څښتن لپاره بيلابيله برخه تعيينيږي.

كار كوونكي ته مضارب ويل كيږي او هغه بل ته چي مال لري دمال مالك ويل كيږي، البته دا دحنفي حنابله او زيديه علماو په نظر.

خو شافعي او مالكي علماو دغه تړون ته (قراض) وايي چي دا له قرض څخه اخستل شوي، ځكه دمال څښتن دخپل مال څخه يوه برخه كاركوونكي ته وركوي او هغه پكښي تصرف كوي او بيا ورته دگټي څخه خپله برخه وركوي، داسي هم ويل كيږي چي دا له (مقارضه) څخه اخستل شوي چي هغه دمساوات په نوم ده او داځكه چي دمال څښتن او كاركوونكي په گټه كي سره مساوي وي، دمال څښتن ته (مقارض) ويل كيږي اوكار كوونكوي ته (مقارَض)

او په اصطلاح كي مضاربت ديته ويل كيږي چي دوه طرفه ترخپل منځ داسي تړون وكړي چي يو به سرمايه وركوي او هغه بل به كار پري كوي گټه به يي ترمنځ شريكه وي.

دمضاربت دمشروعيت دليل- الله تعالى فرمايي: "و آخرون يضربون في الارض يبتغون من فضل الله" او بل دا حديث دپيغمبر صلى الله عليه وسلم چي فرمايي: په دريو شيانو كي بركت دي: تر معيني نيټي پوري پلورنه، مضاربت، او دغنمو او اوربشو گډول لپاره د كور نه دپلورني لپاره "

دا راز دصحابه و عمل او كړني پدي معنى چي هغوي به تر خپلو مينځو مضاربت كاوه او يوه هم ددغي كړني انكار ندی كړی.

سربيره ددي ټول امت پدي متفق دی چي مضاربت جواز لري او دغه اتفاق دصحابه و دكړني څخه مينځ ته راغلي او هغوي به دغه كار كولو دساري په توگه عمر، عثمان، ابن مسعود او داسي نورو.

### د مضاربت شرايط

هغه شرايط چي په سرمايه (راس المال) پوري تړاو لري

لومړي: سرمايه دمضاربت به پيسي وي، او كه دپيسو پر ځاي بل شي وي لكه نور توكي نو پدي كي بيا علماء بيل بيل نظرونه لري: گڼ شمير پدي اند دي چي دپيسو نه پرته نور توكي په مضاربت كي راس المال نشي راتلاي ، خو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن ابي ليلى وايي چي په مضاربت کي راس المال ټول هغه توکي چي له مکيلاتو يا موزوناتو څخه وي صحيح کيږي ځکه دا توکي مثل لري.

جمهور علماء وايي چي کچيري دمضاربت راس المال له پيسو څخه پرته بل شي وي نو په هغه کي تاوان دي، ځکه مضارب (کار کوونی) به له څښتن دمال څخه توکي ترلاسه کړي خو قيمت به يي پردي مهال امکان لري لوړ او يا ټيټ وي اوکله چي بيرته سپاري نو قيمت به يي تغير خوړلي وي، نو پدي صورت کي راس المال اوګټه دواړه نه معلوميږي، بلکي دواړه به مجهول وي.

دويم: راس المال به هغه قرض نوي چي دمضارب په ذمه وي، پدي معنى په پيل کي به دمضاربت راس المال هغه قرض نوي چي دمضارب په غاړه وي، پداسي توګه که يو شخص دبل پوروړي وي نو هغه ورته ووايي چي په هغه مال دمضاربت په شکل تجارت وکړه چي پر تا مي پور دی.

دريم: دمضاربت راس المال به معلوم وي او که دغه مال نا معلوم وي بيا مضاربت نه صحيح کيږي.

څلورم: راس المال به کارکوونکي (مضارب) ته سپارل کيږي، چي دغه سپارل به يا په لاس سره وي او يا به داسي صورت لري چي مضارب کولاي شي پرته دکوم مشکل څخه هغه لاسته راوړي.

دګټي شرايط:

لومړي: دهر يوه � دمال دڅښتن او مضارب- دګټي اندازه به معلومه وي،کچيري دغه اندازه نا معلومه وي نو دغه کړنه ددي لامل ګرځي چي تړون(عقد) فاسد کړي، ځکه هر شرط چي دګټي دنامعلومتيا لامل ګرځي هغه دمضاربت تړون له مينځه وړي، کچيري مطلق مضاربت ذکر شي نو ګټه به ددواړو ترمنځ نيمايي وي ځکه شرکت تل دمساوات غوښتنه کوي.

دويم: دګټي داندازي برخه به ويشل شوي وي لکه نيمه دريمه او داسي نور.

پوښتنه: ايا ګټه به يوازي تر عاقدينو (څښتن دمال او مضارب) ترمنځ ځانګړي وي او که نور هم ورسره شريکيداي شي، پدي کي دعلماو اختلاف دي:

الف: په ګټه کي دا شرط دی چي يوازي دعاقدينو (څښتن دمال اومضارب) ترمنځ به وي که يي ددريم کس لپاره شرط کړي نو دا مضاربت صحيح ندي، ځکه دريم کس نه کارکوونکی دی او نه دمال خاوند، دا دشافعي صاحب او ظاهريانو نظر دی.

ب: ددريم کس لپاره ګټه شرط کول هم صحيح دی ځکه دا نيك کار اوخيرات دی او دمضاربت نوم ورته اخستل له باب دمجاز څخه دی خو که يي شرط کړي نو وفاء کول پري لازم دی دا دامام مالك نظر دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مضاربت حقيقت:

پدي مساله کي علماء دوه نظرونه لري:

لومړي: ګڼ شمير علماء پدي اند دی چي مضاربت دمعاوضي (عوض) له جنس څخه ده لکه اجاره، او مزدوي (اجري) نا معلومتيا ددي لامل ګرځي چي دغه عقد (تړون) دقياس خلاف ده، پدي اساس يي دايره ډيره تنګه ده، او هغه مضاربت چي داتفاق له لاري را مينځته کيږي جواز نلري.

دويم: شيخ الاسلام ابن تيميه او دده شاګرد ابن القيم پدي اند دي چي مضاربت د مشارکت له باب څخه ده، که په مضاربت کي يوه معنی داجاري ده نو دا اجاره ډيره پراخه او وسيع ده.

لومړي ډلي دليل: دقياس په وړاندي مضاربت جواز نلري ځکه دا پداسي څه اجاره کول دي چي اجره يي نا معلومه ده، آن چي معدومه دي، دارنګه عمل هم نا معلوم دی، خو مونږ قياس ته ځکه اعتبار ندي ورکړي چي ثبوت ئي په قرآن، سنتو اواجماع سره راغلي.

ددويمي ډلي دليل: مضاربت اجاره ده خو په پراخي او وسيع معنی سره، او مضاربت په هيڅ توګه د قياس مخالفه نده، اوڅوك چي وائي دا دقياس مخالفه ده، او له جنس داجاري څخه ده، ځکه چي کار د عوض په مقابل کي دی او په اجاره کي دا شرط دی چي دکار عوض (مزدوري) به معلومه وي دارنګه به دکار اندازه هم معلومه وي، نوکله چي په مضاربت کي کار او ګټه دواړه نا معلوم دي پدي اساس دقياس مخالفه ده، خو دا نظريه ددوي غلطه ده، ځکه دغه واړه عقود (تړونونه) د شراکت له جنس څخه دي، نه د عوض له جنس نه، اوشراکتونه داسي اجناس دي ي له معاوضاتو څخه توپيرلري، که څه هم تر يوي اندازي عوض پکښي موجود دی.

## د مضاربت دعقد(تړون) کړني

ګڼ شمير فقهاء پدي اند دي چي مضاربت يوازي تر تجارتي کړني پوري خاص دی، نورکړني او حرفوي اعمال پکښي داخل ندي لکه خياطي، ګلدوزي، زرګري او داسي نور، خو مالکي علماء بيا وايي چي دمضاربت ډګر پراخ دي ټولو کړنو ته شامل دي، خو پخوا لدينه چي ددوي نظر په غور وڅيړو بايد ووايو چي مضاربت دوه ډوله دي: مطلق او مقيد، په مطلق مضاربت کي مضارب (کارکوونکي) دخپلي خوښي مطابق هر راز تصرف کولاي شي، او مقيد مضاربت کي به هغه تصرف کوي چي دمال څښتن ورته ټاکلي وي.

خو همدغه مطلق مضاربت دلومړۍ نظري له مخي يوازي تر تجارتي کړنو پوري ځانګړي دی، ځکه مضاربت په هغه تجارت کي صحيح کيږي چي اندازه يي منضبطه نوي، او که ورته وواي چي غنم واخله بيا يي وړه کړه او ډوډوي ورڅخه پخي کړه خو ګټه به ددواړو ترمنځ شريکه وي دا مضاربت صحيح ندي، البته دمالکي علماء په نزد دا صحيح دي، ځکه دمضاربت څخه اساسي مقصد دګټي لاسته راوړنه ده، نو په هره مشروع لار چي راوړي دا صحيح ده.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا رنګه علماء پدي کي هم بيلابيل نظريات لري چي ايا مضارب کولاي شي دغه دمضاربت مال بل دريم کس ته په مضاربت ورکړي:

لومړي: حنفي علماء پدي اند دی که چيري دمال څښتن اجازه وکړي او ووايي چي پخپله خوښه او نظر پري کار وکړه بيا کولاي شي چي مضارب يي بل دريم کس ته په مضاربت ورکړي، ځکه چي دمال څښتن واك او اختيار مضارب ته ورکړي،او ويلي دي چي دخپلي خوښي مطابق کار پري وکړه خو ګټه به موشريکه وي، دبيلګي په توګه کچيري دمال څښتن مضارب ته په مطلق ډول پرته لدينه چي دګټي اندازه معلومه کړي مال ورکړي، او هغه را ولاړ شي بل دريم کس ته يي په مضاربت ورکړي او ورته ووايي چي ستا ګټه به دريمه وي، نو دويم ورسته دکار څخه ګټه تر لاسه کړه، پدي صورت کي به دټولي ګټي دريمه برخه دهمدي دويم مضارب وي، او نيمه به دمال دڅښتن وي، باقي شپږمه به د لومړي مضارب وي،ځکه ددويم مضارب کار او عمل داسي معنی لري لکه همدي لومړي مضارب چي پخپله کړي وي.

دويم: د حنابله علماء وايي چي روا ده خو پدي شرط چي دمال څښتن په قاطع توګه اجازه وکړي، نو بيا به لومړي مضارب دمال دخاوند وکيل وګرځي، که دويم مضارب ته يي ورکړي او ځان لپاره دګټي هيڅ شي شرط نکړي بيا صحيح ده او که يي شرط کړي يعني ووايي چي دومره اندازه ګټه به زما وي بيا صحيح نده، ځکه ده نه کار کړي او نه مال دده دی او دګټي مستحق هغه مهال ګرځي چي يو له ددي دوو نه ولري يا مال او يا کار.

دريم: شافعي علماء بيا پدي مساله کي دوه نظره لري: چي صحيح نظر يي دادي چي مضاربت دقياس خلاف ثابته شوي، نو ددي غوښتنه داده چي پدغه تړون (عقد) کي به دوه کسان وي يو دمال څښتن اوبل کار کوونکي بل چاته سرايت نکوي.

البته دحنفي علماو په وړاندي دګټي مستحق په دريو شيانو سره ګرځي مال، عمل، او ضمانت، چي زياتره علماء دي نظريي ته ترجيح او غوروالي ورکوي.

## مضاربت او ټوليز استثمار

دا يو څرګند حقيقت دی چي مضاربت د پيسو داستثمار غوره او بهتره وسيله ده چي په ترڅ کي يي د مال دڅښتن او کار کوونکي تر منځ تړون رامينځته کيږي، مګر په معاصر وخت کي داسي نوي شرکتونه په بيلابيلو شکلونو مينځته راغلي چي دپخوا څخه په پوره کچه توپير لري، چي ددغو شرکتونو ګڼ شمير په ټوليز او بيشميره شريکانو پوري تړلي وي آن تردي چي زياتره يي يو له بله نه پيژني اونه يي په ټوله زندګي کي ليدلي وي، معاصرو پرمختلليو بانکونو وکولاي شواي چي تر ډيره بريده داسي کړنلاري اختيار کړي چي له يوي خوا دمضاربت او ټوليزو شرکتونو کړني تنظيم کړي او له بلي خوا د خلکو غوښتني په داسي توګه پوره کړي چي څه راز يي هغوي غوښتونکي وي، ديادوني وړ ده چي کله دمضاربت تړون رامينځته شو او پر هغه کار پيل شو بيا دريم لوري ته روا نده چي لدغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرون سره ځان شريك کړي، پدي اعتبار سره چي ګني دمال څښتن دي او غواړي دمخكنو سره پکښي شريك شي، آن ترډي چي كه دمال څښتن کوم چي پخوا يي دمضارب سره ټرون کړي اوهغه ته يي مال سپارلي خو بيا ورته نور مال له سره ورکوي او غواړي دپخواني ټرون سره يي ګډ کړي دا هم صحيح نده، ځكه ددوو مالونو ګډوالي په دوو ټرونونو (عقدونو) سره صحيح ندی، مګر كه پخوانی مال لا هماغسي پاتي وي كار پري نوي شروع شوي او يا هغه مال پلورل شوي وي نقدي پيسي تري لاسته راغلي وي، نو بيا كولاي شي نوري ورسره يو ځاي كړي، ځكه دلومړي ټرون حکم قرار موندلي نو دهغه تاوان او ګټه تر هماغه پوري تړاو لري، ددويم ورګډيدل ددي لامل ګرځي چي ديوه تاوان دهغه بل په ګټه جبيره كړي، نو هر كله چي دا په دريم ټرون کي شرط كيږي (عقد) فاسديږي.

البته دبانكونو داستثمار ترڅ العمل په همدي ګډوالي ولاړ دي چي وروستني مالونه دمخكنو سره ګډيږي، او كړني هماغسي پاتي وي، نو دغه عمل هغه ستونزه ده چي څه راز دوخت سره جوړه راشي او ستونزه حل وومي.

سربيره پردي په مضاربت کي دمال څښتن كولاي شي دمضاربت لپاره يو شمير شرايط وټاكي ترڅو وكولاي شي تر ډيره بريده له تاوان څخه ځان وژغوري، خو دغه کړنه په ټوليز استثمار کي امكان نلري، او نه ګټه په ټوليز استثمار کي دحالاتو مطابق تقسيميداي شي، ځكه ټوليز استثمار پدي ولاړ دي چي له يوي خوا مالونه په ګټه اچوي اوكار پري كوي او له بلي خوا په ځانګړيو وختونوكي ګټي توزيع كوي، پدي اساس ګڼ شمير معاصر فقهاء دغه مساله داسلامي فقهي په وړاندي له اجاري سره تړي، ځكه په اسلامي فقه کي دوه قسمه مزدوران (اجيران) وي يو خاص او بل مشترك، نو مضاربت هم همدي دوو قسمونو ته ويشو، يو به خاص مضارب شي بل مشترك، او په هغه تګلاره به روان شو چي د مشترك مضارب تنظيم ټاکي، په مشترك مضاربت کي دري ډلي ګډي وي چي دهري يوي اړيکي له بلي څخه ګوښي وي.

لومړۍ ډله: دمالونو څښتنان، دويمه ډله: كاركوونكي (مضاربان) دريمه ډله: هغه جهت او شخص چي له يوي خوا يي ددواړو ډلو ترمنځ توافق راوستي او له بلي خوا دمالونو دانتظام چاري پر مخ بيايي، پدي معنی چي ددويمي ډلي په لټه کي وي ترڅو هغوي ته مال دکاركولو لپاره وركړي، نو دريمه ډله داسي اهميت لري چي دلومړۍ او دويمي ترمنځ كړني پرمخ بيايي، ځكه دی دمال دڅښتنانو لپاره مضارب بلل كيږي، او د كاركوونكو لپاره دمال څښتن بلل كيږي، مګر ددي سره سره دی پداسي كړنه ملزم ندي لكه دمضارب په څير چي ديو سړي لپاره كار تر سره كوي، بلكيه دی عامو خلكو ته دخپلو خدمتونو وړانديز كوي تر څو يي مال په ګټه واچوي، نو پدي اساس دمال څښتنان په ګټه کي يو دبل شريكان ګڼل كيږي، سره ددي چي ددوي تر منځ هيڅ قسم ټرون ندی رامينځته شوي، او كاركوونكي (مضاربون) پخپلو كارونو کي ګوښي او يو له بله په ګټه او شرايطو کي مستقل دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ټولیز مضاربت ښیګڼې

دمال څښتن ته ددي زمینه برابره ده چي دخپل مال داستثمار لپاره پرته له کوم مشکل او بغیر ددي چي دامین کس پلټنه وکړي مال دمضاربت په شکل بانك ته ورکړي او هغه يي په کار واچوي، سربیره پردي دلړو شتمنیو څښتنان د ډیرو شتمنیو دڅښتنانو سره دګټي په اندازه کي برابر وي.

دا رنګه دمضاربینو (کارکوونکو) غوښتنو ته پرته له کوم حساب او سختو شرایطو نه دمال لاسته راوړني زمینه برابره ده تر څو پري کار وکړي.

ددي برسیره ټولیز مضاربت کوم چي دبانکونو له لاري اجرا کیږي له دوو برخو نه بهتروالی لري:

لومړي: بانکي مضاربت په يو داسي اساس خط روان دی چي عامه توګه دراس المال اړیکه او پوره والی تر کار او عمل پوري تړي په خلاف دنورو بانکي چارو چي هغوي راس المال اړیکه او پوره والی خپله له راس المال سره تړي.

دویم: دبانك دغه نظام کولای شي ډیر هغه شتمني او مالونه تر لاسه کړي چي له استثمار او شرکت څخه خوندي او بي برخي پاتي دي ځکه څښتنان يي له بانکي نظام څخه ځکه ډاډه ندي چي هغه په سود ولاړ دي.

## د ټولیز مضاربت ځانګړتیاوي

ټولیز مضاربت دفردي مضاربت څخه په دوو مسالو کي توپیر لري چي هغه عبارت دي له: شرایطو اوضمانت څخه:

لومړي شرایط: په خاص یا فردي مضاربت کي دمال څښتن کولای شي په مضارب باندي ځانګړي شرایط او قیوادات دفقهي احکامو مطابق ولګوي لکه دعباس بن عبد المطلب په قضیه کي چي راغلي عباس خپل مضارب ته وايي: پر تا لازمه ده چي کله دمضاربت کار کوي نو دسمندر له لاري به سفر نکوي، نه به دکندو او بیدیاو له لاري سفر کوي، او نه به لانده توکي رانیسي"....

خو په ټولیز مضاربت کي بیا مساله دغه شاني نده بلکي لدینه توپیر لري ځکه قیودات لګول په ټولیز مضاربت کي دګډوډي اوبي نظمي لامل ګرځي، دبیلګي په توګه که مونږ دموټر کرايي ته راشو نو هلته به ښکاره تو پیراو بیلتون وګورو، يو داسي موټر وي چي خاص کس يي کرايه کړي (سپیشل) اويو داسي وي چي هغه عام ترانسپورت وي، نو په لومړي حالت کي کولای شي مستاجر دموټر چلونکي ته ووايي چي فلاني ځاي ته لاړ شه، او هم کولای شي ورته ووايي په دي لار مه ځه په هغه بله لاړ شه، خو دعام ترانسپورت مستاجر نشي کولای کوم ځانګړي شرط په چلوونکي دموټر ولګوي، نشي کولای هغه ته ووايي ما فلاني ځاي ته ورسوه بلکي موټر بشپړه ازادي لري پخپله ټاکلي لار ځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دخلکو د لارو اوځایونو سره کار نلري، خو مشترك مضارب کولاي شي یو لړ داسي شرایط ولګوي چي دمال دخوندي ساتلو لپاره وړ وي.

### دویم- دضمانت مساله:

دمشترك مضارب ضمان په عملي ډګر کي یو له مهمو مسائلو څخه ده، ځکه دغه کړنه دمشترك مضارب په کامیابي کي اساسي رول لوبوي، که هر څومره مونږ بانك منځګړي وشمیرو خو بیاهم ددي څخه نه وزي چي مضارب دی، دا معلومه ده چي خاص اجیر په هغه څه کي امین ګڼل کیږي چي دده په لاس کي وي، نو هر څه چي دده څخه پرته دکوم تقصیر څخه ضایع شي دی یي په عامه توګه ضامن ندي که څه هم چي په مساله کي دعلماء اختلاف دی خو را غوره نظر دي چي ضامن نه بلل کیږي، خو د مشترك اجیر(مزدور) په اړوندعلماء مختلف نظریات لري:

یو شمیر علماء پدي اند دي چي مشترك اجیر(مزدور) ضامن ندی، لکه ابوحنیفه، زفر، حسن بن زیاد ابګن حزم، دارنګه شافعي علماء او احمد په یو روایت کي.

ابو یوسف اومحمد پدي نظر دي چي مشترك اجیر(مزدور) پرته له هغه حالت نه چي مال پداسي توګه هلاك شي چي ژغورل یي امکان نلري په نورو حالاتو کي ضامن دی، ځکه عمر او علي رضي الله عنهما به مشترك اجیر (مزدور) ضامن ګڼل.

اوله هغه حالت نه چي ژغورل یي امکان نلري مقصد ورنه داسي حالت دي چي د اجیر له قدرت څخه بهر وي لکه اور، ډلیز غله، اوداسي نور.

دوي وایي حضرت علي رضي الله عنه به ویل: دخلکو لپاره پرته لدینه (دمشترك اجیر ضمانتیا) بله دمصلحت لار نشته، او مصلحت پدي کي دی چي خلك تل جوړونکو ته اړتیا لري او زیاتره حالاتو کي دوي دخپلو توکو څخه لري وي، ددوي دنظر څخه هغه پټ وي، او په جوړونکو کي زیاتره مهال تفریط او تقصیر موجود وي، ددغو پردیو توکو دحفاظت خاص فکر نکوي، کچیري مونږ دغه کسان ضامن ونه ګڼو نو یو له دوو حالاتو نه به ارمرو رامینځته کیږي:

لومړي: یا به په بشپړه توګه جوړونه پریږدو چي دغه کار پر خلکو خورا دروند تمامیږي بلکي امکان نلري.

دویم: او یا به هغوي کار کوي خو د ورکي په صورت کي به ضامنان نوي، ځکه هغوي به تل همدا وایي چي هلاك شول، ورك شول، نو دخلکو مالونو به پرته دکوم سبب څخه ورکیږي، سربیره پردي چي دغه کړنه به دغټ خیانت او له الله څخه دنه ویري لامل ګرځي، پدي اساس مصلحت پدي کي دي چي ضامن وګڼل شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي څخه داسي څرګنده شوه چي دخلکو دمصلحت او ددوي دضرورتيا دپوره کولو غوره لار همدا ده چي مشترك اجير(مزدور) ضامن وګڼل شي، او مخکي بيان شوه چي مشتر مضارب دمشترك اجير په څير دی،ځکه دی دمال په اداره او کيفيت کي پوره واکدار اوخپلواك دی کچيري ضامن ونه ګڼل شي نو دغه کړنه به ددي لامل شي چي ديو پيسو دلاسته راوړني پخاطر به مالونو لوټمارانو او قماربازانو ته ورکوي پرته ددينه چي دهغو دساتني او حفاظت خيال وساتي، او دغه کړنه به پخپل وار ددي لامل شي چي دخلکو مالونه به هلاك شي ترمنځ به يي باوري او اعتماد ختم شي، اوبيابه ددیته جوګه نوي چي داستثمار اوګټي لپاره يي چاته ورکړي چي دغه واړه کارونه دټولني دزيان او بربادي سبب ګرځي.

البته دخاص مضارب دضمانتيا په هکله دمضاربت په باب کي علماو دوه بيل بيل حالات ذکر کړيدي، خو دوي پدي متفق دي چي که څوك پخپله کار کوي او خپله شتمني پخپله چلوي نو ضامن ندي خو ددغه شرط لګول په تړون (عقد) اغيزه پري باسي اوکه نه؟

امام مالك او شافعي پدي اند دي چي دغسي مضاربت جواز نلري او شرط فاسد دی.

ابوحنيفه پدي اند دی چي مضاربت صحيح دی خو شرط باطل دی.

او که چيرته کارکوونکي (مضارب) دغه پردی مال بل کس ته په مضاربت ورکړي نو مالك شافعي ابوحنيفه او ليث وايي چي که تاوان يي وکړ نو ضامن دی اوکه ګټه يي وکړه نو دخپل شرط موافق چلند به ورسره کيږي.

کاساني ددي مسالي دوضاحت لپاره غوره مثال راوړي دي هغه وايي: "... جوړونکي دخلکو څخه کارونو په مزدوري نيسي خو بيا يي پخپله نکوي خو په نورو يي په لږ قيمت کوي او زيادت پيسي ده ته پاتي کيږي، نو دي چي کومي پيسي اخلي ددي داستحقاق لامل پرته له ضمانت څخه بل نشته، نو دارنګه هغه مضارب چي اخستل شوي مال بل کس ته ورکوي ترڅو پري کار وکړي، نو ددويم مضارب کار ددوي دواړو(دمال څښتن او لومړي مضارب) څخه په نيابت واقع شو، نو پدي اساس دواړه دګټي مستحق دي، که څه هم چي لومړي مضارب کوم کار ندي کړي، خو عامه قاعده داده چي ګټه په دريو شيانو سره انسان لاسته راوړاي شي: مال، کار، او ضمانت نو لومړي مضارب مال نه درلودل او نه يي کارکړي خو ضامن و نو پدي اساس دګټي مستحق شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګټې دتحقيق ضوابط او د هغې ويش

دګټې دتحقيق ضوابط او تقسيم دخاص او مشترك مضاربت ترمنځ توپير لري:

الف: دخاص مضاربت عام قواعد:

فقهاء ګټه دراس المال ساتونکي ګڼي، او وايي چې د راس المال څخه څه زيات شول هغه ګټه ده او که زيات نشول نوګټه نشته، دارنګه که مضارب تاوان وکړ بيا يې ګټه وکړه نو لومړي تاوان به په دويم ګټه پوره کړي، او دا هم کيداي شي چې تړون کوونکي دګټې ويش اخرته پريږدي، پدې معنی چې هغه مهال به زوړ تړون فسخه کړي اوڅه ګټه چې کړې وي هغه به تقسيم کړي اوبيا کې يې کول نو له سره به نوي تړون وکړي، اويا داسې چې حسابي به وکړي، خو دنتيجې په اړوند دواړه يو شي دي کوم تغير پکښې نه راځي، ځکه فسخه هم ددي غوښته کوي چې مال په پيسو بدل شي او حسابي هم نو ددواړو پايله يو شي شوه.

ب: دمشترك مضاربت وړاندي شوي قواعد او تطبيقات:

پدغه قسم مضاربت کې دوه ډوله اړيکې وجود لري، يوه يې دکارکوونکو اړيکه له مشترك مضارب سره ده، او دويم يې دمال دڅښتنانو اړيکه له مشترك مضارب سره ده، دلومړۍ اړيکې په اړوند بايد ووايو چې ددغه قسم او خاص مضاربت فقهي قواعد د ګټې دلاسته راوړني او تقسيم په اړوند يو شانته دي، پدې اساس ټولې ګټې دهغو قواعدو سره سم رواني وي کوم چې فقهاو دمحاسبي لپاره ټاکلي دي، پدې معنی چې راس المال به پوره کوي او باقي چې څه ګټه پاتې شوه هغه به دخپل تړون او اتفاق موافق ويشي، خو دڅښتنانو دمال اړيکې له مشترك مضارب (بانك) سره بيا دا شانته ندي، ځکه پدغه مضاربت کې دټولو مضاربتونو تصفيه په يو وخت کې ناشوني ده، دارنګه دا هم ناشوني ده چې مشترك مضارب (بانك) دې دټولو خلکو راس المال خپلو څښتنانو ته وسپاري ترڅو وروسته ګټې په صحيح توګه وويشي، ځکه مشترك مضاربت دوامدار مضاربت دي او په هغې کې هغه قواعد نشي پلي کيداي کوم چې په خاص مضاربت کې پلي کيږي.

مخکې مو ډاګيزه کړه چې مشترك مضارب (بانك) ضامن دی، پدې اساس دګټې په ويش کې کومه ستونزه نه رامينځته کيږي، ځکه فقهاء وايي کله چې مضاربت دوامدار وي نو دګټې ويش صحيح ندي ترڅو راس المال له نقصان سره مخ نشي، ځکه په خاص مضاربت کې دنقصان په صورت کې له مضارب څخه پوښتنه نه کيږي، په خلاف د مشترك مضارب ځکه دی په ټولو حالاتو کې ضامن بلل کيږي، نو څرنګه چې ددواړو ترمنځ دغه توپير موجود دی په مشترك مضاربت کې ګټه په ځانګړي وخت او موسم کې ويشله کيږي، دا بيا کومه مهمه خبره نده چې په کال کې يو ځلې ويشي لکه يو لړ مشترك شرکتونه چې د نظم او صحيح ويش پخاطر دا کار کوي، دوي دهر کال په پاي کې ټولې ګټې را غونډوي تر څو يې د مالونو په اندازه تقسيم کړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني دا پوښتنه را ولاړوي چي ايا دا څه ډول امکان لري پداسي حال کي چي مالونه اوشتمني يو له بله ګډيږي او دکار همدا روان وي؟

ځواب: فقهاء د ملکيت دشرکت او عقدي (تړوني) شرکت ترمنځ فرق کوي، په ملکي شرکت کي ګټه دمال په اندازه وي، او په عقدي (تړوني) شرکت کي ګټه د دتړون په اساس ويشله کيږي، لدي څخه داسي جوته شوه چي ګټه دعين مال سره تړاو نلري، ترڍي چي دوه شريکان هر يو پخپل شخصي مال څه وپلوري او وپيرودي نو په ګټه کي دواړه شريکان دي، او دا مساله دعمل شرکت سره ورته والي لري، که يو شريك دکار په شرکت کي کار وکړي او بل يي ونکړي نو په ګټه کي سره شريکان دي، ځکه ددوي ترمنځ دشراکت ټکي کار کول دي، که بيا بالفعل کار وکړي يايي ونکړي، نو دارنګه په مالي شرکت کي هم، دلته هم ګټه دعين مال تر ودي پوري تړاو نلري، بلکي پدي ولاړه ده چي مال دشرکت دغوښتني په اساس تر تصرف لاندي کيږدي، که بيا دغه مال په پلورنه او پيرودنه کي استعمال شي يا نشي.

پدي سره جوته شوه چي پدغه قسم شرکت کي يوازي دمال سپارل مشترك مضارب ته کفايت کوي او هم دغه کړنه يي په ځانګړي وخت کي دګټي مستحق ګرځوي، برابره خبره ده که دغه مال بيا داستثمار لپاره وکارول شي يا ونه کارول شي، داځکه چي مشترك مضاربت دوامدار دي او دوي يوځل په کال کي حساب کوي، پدي اساس هغه ګټه چي دکال په پاي کي ترلاسه کيږي په هغو مالونو پوري تړاو لري چي دکال دپيل څخه بيا ترپايه پوري تر لاسه کړي وي، له همدي کبله کچيري دمال څښتن خپل ټول مال يا يوه برخه دمال له مشترك مضارب (بانك) څخه مخکي له تماميدو دمالي کال څخه واخلي نو ددغو اخستل شويو پيسو ګټه به نه ورکول کيږي، او نه دغه اخستل شوي پيسي دګټي مستحق ګڼلي کيږي. البته دا کړنه په خاص مضاربت کي هم ترسره کيږي، کچيري دمال څښتن دکال په اوږدو کي دخپل مال څخه پخوا لدينه چي دمضاربت ګټه او تاوان معلوم شي واخلي نو مضاربت يوازي په باقي مال کي پاتي کيږي ځکه دمال څښتن دمضارب سره نوري پيسي ندي پريښي، نو دغه حال په بانکي مضاربت کي هم دي.

البته يوه بله پوښتنه چي راولاړيږي هغه داده کچيري دمال څښتن دکال په اوږدو کي بانك ته پيسي ورکړي نو ايا په ګټه کي شريك شميرل کيږي؟

ځواب: پخوا څرګنده شوه چي دګټي دمستحقوالي لامل يوازي همدا دي چي خپل مال دشرکت وتصرف ته وسپاري، نو په پورتني صورت کي دغه عمل موجود دي، صرف دومره خبره ده چي په وخت کي اختلاف دي چا ورته له پيل دکال څخه پيسي سپارلي او چا په اوږدو دکال کي دچا پر مال پوره کال تير شوي او دچا نيمايي کال او دچا له همدي نه هم لږه موده تيره شوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چي مشترك مضارب ضامن ګڼل کیږي نو دګټي په استحقاق کي زیاتوالي کموالي یوازي پدي پوري تړلي چي په ګټه کي څومره برخه اخستي، ځکه چي دتاوان خو پدي شرکت کي بیخي وجود نلري، نو په ګټه دبرخي اخستني لامل وخت دي چي مال یي څومره دموده داستشمار په حالت کي پاتي شوي، نو که څوك یو زر دیناره داستشمار لپاره له پیل دکال څخه ورکړي او ټول کال پري تیر شي دهغه سره په هیڅ توګه نه برابریږي چي زر دیناره ورکړي خو په نیمایي دکال کي.

هرکله چي مساله دزیاتوالي په معیار راځرخي نو بیا دبانکي حساب ترځ العمل معلوم دي چي هغه داعدادو او نمرو نظام دي چي په هغي سره مساله خورا اسانه کیږي، پدي معنی چي دورځو پر ځاي دمیاشتو اندازه ونیسي، ځکه غیر سودي استثمار داسي انتاجي استثمار دی چي پر فعلي هغي ګټي اعتماد لري چي پداسي چټکۍ سره صورت نه نیسي لکه ځرنګه چي ربوي بانك لاسته راوړي، هغه په ډیره چټکۍ سره فایده تر لاسه کوي، پدي اساس په پورتني مثال کي (1000�6/12) دپنځو سوو هغو دینارو سره مساوي دي چي له پیل دکال څخه یي ورکړي وي.

دټولیز مضاربت داستثمار تنظیم او دبانکونو کړنلاره

معاصره بانکي کړنلاره داسي غوره او بهتره کړنلاره ده چي ویي کولاي شواي هغه مالي ګرځنده مالي مدارك چي دحساب خاص کړنلاري لرلي، او هغه به دزیادت اونقصان سره مل وي، بل داسي مستقر مصدر ته وګرځولي چي په بیلابیلو هیوادونو کي دخلکو دغوښتنو مطابق په تجارتي، اقتصادي او نورو ډګرونو کي وکارولي او خلکو ضروریات یي په بشپړه توګه پوره کړه.

دګرځنده مال داستثمار وسایل

له ګرځنده مال څخه مقصد هغه مالونه دي چي ثابت ارتباط ونلري، او څښتن یي نشي کولاي نقدي پیسي په لاس راوړي لکه ځرنګه چي دغه کار په ټولیز مضاربت کي دتړون مطابق ترلاسه کیږي، چي دغه کړني په معاصر وخت کي تجارتي بانکونه پر مخ بیایي.

لکه ځرنګه چي مخکي وښودله شوه چي مشترك مضارب (بانك) دمالونو دڅښتنانو اوکارکوونکو ترمنځ دمنځګړي حیثیت لري، نو له همدي کبله داستثمار بیلابیل وسائل پکار ده چي دمنځګړي شکل په منظم ډول اختیار کړي نه داسي چي دمال کارکوونکي دي، مشترك مضارب ته پکار ده چي دمالونو پوره ساتنه وکړي ځکه ده داسي مالونه پکار اچولي چي په ځانګړیو وختونو کي به یي بیرته څښتنانو ته سپاري، له همدي کبله لازمه ده چي دده سره هغه مالونه پاتي شي چي دي یي یا دګټي تر حالته خاوند وي او یا لږ ترلږه دهغو ضامن وي لکه قرضدار چي دقرض مال ضامن وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګرځنده مال داستثمار غوره وسایل دریو برخو ته ویشل کیږي:

الف: دځانګړي تړون له مخي مضاربت:

فقهاء پدي اند چي مضاربت لکه څرنګه چي په مطلقه توګه صحیح دی دارنګه مقید او دخاص شرایطو سره دټاکلو سره هم صحیح دی، ترڅو مشترك مضارب (بانك) وکولاي شي له دي لاري څخه دځانګړي مودي او انتهاء وخت معلوم کړي او په هماغه اندازه یي پکار واچوي، او هم دغه کار ددایم شرکت مخه ونیسي، پدغه قسم مضاربت کي چي دځانګړي تړون مضاربت ورته ویل کیږي کارکوونکي کولاي شي دبیلابیلو تجارتي جهتونو سره قرار دادونه وکړي، برابره خبره ده که دا بیا افراد وي او که عام یا خاص شرکتونه وي، سربیره پردي مشترك مضارب کولاي شي دبیلابیلو ډلو اوشرکتونو څخه مضاربین اخیتار کړي، اودهغو پر اساس خپله شتمني وویشي او یو ټولنیز چلند دهغوي سره غوره کړي، دارنګه د یو شرکت دلاندي مختلفو جنسونو لپاره دمضاربت په توګه مال ورکول چي دغه کړنه ددوو کارونو په تحقق کي مرسته کوي:

الف: دیوه دتاوان جبیره دهغه بل په ګټه سره پوره کولاي شي او یا دیو جنس تاوان دهغه بل جنس په ګټه جبیره کولاي شي.

ب: ددي کار په کولو سره یو قسم داسي مراقبت صورت نیسي چي اساس یي دبیلابیلو هغو نتیجو په مقارنه ولاړ وي چي دمضاربینو (کارکوونکو) لخوا یي ښودنه شوي وي، کچیري یو سوداګر غنم وپیرودي او په یو ټن کي ګټه پنځه درهم وي، خو بل سوداګر وریجي واخلي او دهغه ګټه په یو ټن کي لس درهم وي، نو دغه تفاوت مشترك مضارب دیته تشویقوي چي په راتلونکي کي دلومړي سوداګر سره معامله لږه او ددویم سره یي زیاته کړي.

دا راز مشترك مضارب کولاي شي چي دخاص مضارب دقدرت موافق دیوه تړون له مخي هغه ته ټول راس المال ورکړي او یا نیماني ورکړي او یا هم دریمه برخه ورکړي.

که یو مشترك مضارب د دهغه سوداګر سره چي له بلجیم څخه دکور جوړوني توکي راواردوي تړون وکړي او مشترك مضارب د حمل نقل او سفر په مصارف په غاړه واخلي نو دا خاص مضاربت ګڼل کیږي.

او کچیري پدي تړون او اتفاق راشي چي مشترك مضارب به نیمایي قیمت دقرض په شکل ورکوي او سوداګر به دخپله لوري نیمایي اچوي نو دا شرکت او ومضاربت دواړه دي چي ددواړو یو ځایوالي جواز لري.

که یو سوداګر دچین څخه سل زره متره رخت را وارد کړي او ټول مصارف یي په ګډون دګمرك او نورو شیانو په لاندي توګه وارزول شي نو خپله دګټي اندازه معلومیږي:

100000متر �60 فلسه = 6000 دیناره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



گمرکي محصول 0/01 = 60 ديناره

داجازه نامي محصول 0/09 = 240 ديناره

دبانك داعتمادي اکاونت مصارف 5، 01/= 90 ديناره

گمرکي محصول او له بندر څخه دنقل مصارف 90 دينار

المجموع 9390 ديناره

دغه ټوله کړنه له تاريخ درسيدو څخه ددريو مياشتو په موده کي سرته ورسيده، او هر متريي په 110 فلسه وپلورل نو ددي ټرون ټوله ګټه به 11000 � 9390= 1610 ديناره.

ټوله وخت يي اته مياشتي ونيو، او په ټرون کي راغلي و چي دسوداګر فېصدي به 0/075 وي او د مشترك مضارب به 0/025 وي او تجارتي توکي ورك او تاوان وکړي نو هغه به دمال په اندازه تقسيميږي، که مونږ په پورتني مثال کي حساب وکړو نو دمشترك مضارب (بانك) ګټه 400 دينارو ته رسيږي، او دبانکي حساب او فايدي له مخي 5، 0/018 ته رسيږي .

دويم هغه مشارکت چي پاي يي په ملکيت تماميږي:

دغه کړنه داستثمار پداسي توګه صورت نيسي چي مشترك مضارب (بانك) دپلورني لپاره داسي توکي را ونيسي چي کار پري وکړي لکه موټري چي دخلکو او توکو دنقلولو لپاره کارول کيږي، البته دا به پداسي شکل نوي چي دکسب لپاره يي ترلاسه کړي، بلکي دابه ديو ځانګړي ترتيب شوي نظام له مخي مزدورانو (اجيرانو) ته ورکوي ترڅو تري دومره اندازه لاسته راوړي چي دموټر قيمت پوره کړي، پدي معنی چي مشترك مضارب (بانك) به دموټر دملکيت څخه خپل کارګر ته دمودي سره سم تيريږي پدي شرط چي هغه په بشپړه توګه دموټر قيمت په هماغه ټاکلي موده کي وسپاري.

دبيلګي په توګه: يو سړي چي دتيکسي موټر چلونکي دي هره ورځ دموټر څښتن ته له مصارف ايستلو وروسته خپل حساب سپاري، اوددغه موټر قيمت سره دټولو ګمرکي محصولاتو 2400 ديناره کيږي.

مياشتی فايده دمصارفو او چلونکي د مزدوري پرته څلويښتو دينارو ته رسيږي، او دی دشپيتو دينارو او يا ددي مساوي شي ترلاسه کوي چي دکال عايد يي 60 � 12 = 720 ديناره کيږي، لدي څخه بانك 0/025 دصافي دخل په اندازه اخلي چي دا دده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



100

دهغي مجموع 720 � 25 = 180 ديناره په كال كي، او پاتي ديناررونو اندازه 540 ته رسيږي، چي دتامين په حساب كي وركوي ترڅو دموټر ټول قيمت پوره كړي، او پدي صورت كي به بيا دموټر مالك شي چي دغه كړنه به دپنځو كلونو څخه په لنډه موده كي پوره كړي .

دريم: بيع مرابحه (دګټي په شكل پلورنه)

البته دغه مساله دمعاصر ژوند او حالاتو سره سمون خوري، ځكه كله ناكله دورځني ژوند غوښتنه داوي چي پخوا له پيدا كولو دپيسو (قيمت) څخه دضرورت وړ توكي بايد را ونيسي، كه دغه توكي دشخصي استعمال لپاره پكاريږي لكه دكور سامان، شخصي موټر، تلويزون، او داسي نور او كه د مسلكي وظيفي لپاره پكاريږي لكه د ډاكتر دكلينيك سامان او داسي نور، نو اوس هغه بانك چي په سود ندي ولاړ ددغسي حالاتو سره څه راز تعامل كوي؟

په اسلامي بانكونو كي ديو ځانګړي نظام له مخي اسلامي بانك پدغه كار كي ځان ور شريكوي او غواړي پرته د سود دشبهي څخه ګټه لاسته راوړي چي هغه په لاندي دوو طريقو سره صورت نيسي:

لومړي: دمضاربت دكړني په اساس پدي صورت كي بانك ځان قرض وركوونكي شميري او دتوكو دڅښتن سره په ګټه كي ځان شريك بولي او مضاربت لكه وړاندي چي بيان شو يو كس بل ته مال وركوي تر څو هغه پري تجارت وكړي او په ګټه كي دهغه سره شريك وي

دويم: بانك به دكمبيالا (Bill of Exchange)چكونو دقيمت چاري دټولو شرايطو مطابق پر مخ بيايي، كومي چي د ګټه اخستونكي لپاره ليكلي شويدي.

البته پدي مساله كي به مونږ دلومړي قضيي په اړوند څيړنه وكړو ځكه دويمه داسلامي بانك سره تر ډيره بريده اړخ نه لګوي، پخوا څرګنده شوه چي مضاربت (قراض) داسي مساله ده چي يو كس به بل ته مال سپاري تر څو هغه پري تجارت وكړي او ګټه به يي ترمنځ شريكه وي، البته دلته د كمبيالا چك څخه پيسي ستنول په هغه شكل چي مخكي بيان وشو ددغي رنګه مضاربت سره سمون نخوري، بل داچي كچيري سوداګر خپل توكي په تاوان وپلوري نو ايا بانك به په تاوان كي دهغه سره شريك وي؟ اوكه بانك يوازي دسوداګر سره دكمبيالا چيك په كړنه كي شريك دى كوم چي يوازي په ګټه ولاړ دى؟

كه دي مسالي ته په غور وګورو نو دا په عدالت نده ولاړه، ځكه شريك بايد په ګټه او تاوان دواړو كي شريك شي، او كه بانك يوازي دګټي په حالاتو كي ځان شريك بولي دا بيا شركت ندي، سربيره پردي دغه حل څه عملي بڼه نلري هغه پدي اعتبار چي اخستونكي دتوكي دقيمت يوه برخه نقدي وركوي، او بيا دپيرودني رسيد پداسي شكل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



صادرېږي چي دترون موافق پيسي ورنه ستنوي، نو پدي اساس نوموړي موضوع څه اسانه نده لکه ځيني چي تصور کوي.

بناء پردي دحل غوره لار داده چي هغه کس چي کوم توکي ته اړتيا لري هغه ته ددي فرصت ورکړي شي چي په بشپړه توګه دغه توکي پداسي شکل وپيرودي چي قيمت به يي د مياشتني قسط مطابق پري کوي، او يا ديته ورته لاره ورته پيدا شي، نو هغه ډاکټر چي غواړي دخپل کلينيك لپاره توکي را ونيسي بانك ته به مراجعه وکړي له هغه څخه به ددغو توکو دمرابحت په ډول دپيرودني غوښتنه وکړي، البته دغه مرابحت (ګټه) به ددوي داتفاق موافق وي دساري په توګه 0/02 يا 0/03 او قيمت به يي دخپل وس مطابق په اقساطو ورته سپاري.

پورتني مساله له دوو فرمولو څخه تشکيل شوي يوه دا چي دپيرودني وعده ورسره وشوه او بله په ګټه (مرابحه) دپلورني مساله، دا مساله په هغه قطار کي نه راځي چي انسان داسي شي خرڅوي چي دده سره نوي، او نه په هغه قطار کي راځي چي داسي ګټه ترلاسه کوي چي دتاوان ضامن يي نوي.

ځکه دا داسي بيعه ده چي دتسليم څخه وروسته ترسره کيږي او دلته تسليم د بانك دوکيل له لوري صورت نيسي، او دا هم روا ده چي همدغه وکيل دقيمت ورکولو کفيل هم شي،مګر ددوي دواړو ترمنځ معاهده پدي شوي چي وکالت په صفت به ئي رانيسي چي په همدي مهال وبيعي ژمنه ورسره شوي، او پدغي ژمني وفا کول دقضاء او دين له مخي واجب دي.

او داچي دهغه قيمت څخه چي بانك اخستي پر پيريدونيك زيات پلوري او دا پيسي په تر ټاکلي مودي پوري ورته سپاري او يا به ئي د قسط په شکل سپاري دا دفقهاو له نظره جواز لري، امام ترمذي وائي: يو شمير علماو ددي حديث ( بيعتين في بيعه) تفسير داسي کړي چي پلورونکي ووايي: دا رخت په نقدو په شل افغانۍ درکوم او په قرض ئي په ديرشو درکوم، نو دغه بيعه روا ده پدي شرط چي ترون (عقد) په يوه وشي.

عبد الرزاق پخپل مصنف کي د زهري، طاوس، او سعيد بن المسيب څخه روايت کړي وائي: دا روا ده چي ووائي: دا رخت دمياشتي ترپايه په قرض په شلو افغانيو درکوم او ددوو مياشتو په قرض ئي په ديرشو افغانيو درکوم، که بيا ئي په يو له دي دوو بيعو څخه خرڅ کړي نو دا صحيح ده دا خبره قتاده هم کړيده.

امام محمد بن حسن شيباني وائي: ابو حنيفه رحمه الله دهغه سړي په اړوند وويل چي په بل سړي ئي سل ديناره قرض ترمعلومي نيټي پوري وي، نو کله چي

دحساباتو ترتيب او دګټو تقسيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانك پدي اعتبار چي مشترك مضارب دي، نو پكار ده چي دحساباتو منظم پلان ولري تر څو دا ټول مالونه په صحيح توګه دشرايطو مطابق وكارول شي، البته دحساباتو او امانتونو داستثمار قواعد او اساسنامي په لاندي ډول ترسره كيږي:

## د مالونو د استثمار اصول او اساسنامي

په سودي بانكونو كي دمالونو دښودلو بيلابيلي لاري دي، ځيني د زيادت پخاطر ږدي، ځيني دځانګړي حساب په اساس ږدي، او ځيني بيا تر ځانګړي نيتي پوري ږدي، ددي اختلاف په اساس يي ګټه هم بيلابيل شكلونه غوره كوي.

خو هغه مبلغ (مال) چي په غير ربوي بانك كي ښودل كيږي دګټي اندازه يي داستثمار په صورت كي معلومه نوي، ځكه دغه مال اوس دشركت مال وګرځيده، او په شركت كي يو مال له بل څخه بهتروالي نلري داسي نشي كيداي چي د سلو دينارو ګټه دي دريمه وي او دزرو دينارو ګټه دي نيمايي وي، بلكي دټولو ګټه به په يو معيار وي كه هغه دريمه وي نيمايي وي او كه لدينه لږه يا ډيره وي خو دسلو او زرو به يو معيار وي.

خو كوم چي دوخت سره تړاو لري دا بيا له پورتني مسالي سره اختلاف لري، ځكه هغه پيسي چي بيرته د بانك څخه نه اخستلي كيږي مګر پدي شرط چي دوه مياشتي مخكي به خبر وركوي، توپير لري له هغو څخه چي يوه مياشت مخكي به خبر وركوي، ځكه دديم حالت په پرتله بانك دلومړي حالت په پيسو تر ډيره بريده ښه كار كولاي شي نو پدي اساس يي څښتن دمال ته ددويم په پرتله زياته ګټه پاتي كيږي.

پدي اساس غير سودي بانك دګډون كوونكو ترمنځ دحساب لائحه په لاندي توګه ټاكي:

الف � داستثماري حساباتو شريكان په ټولو پيسو كي فيصدي 0/050 داصلي سرمايي

ب-دهغو شريكانو حسابات چي يوه مياشت وړاندي خبروركوي 0/060 داصلي سرمايي

ج � دهغو شريكانو حسابات چي دوه مياشتي وړاندي خبر وركوي 0/070 داصلي سرمايي

د- دهغو شريكانو چي تريوكال پوري وخت وركړي وي 0/090 داصلي سرمايي

ددي څخه هدف اوموخه داده چي څرګنده شي چي د زرو دينارو څښتن چي غواړي مال يي په مطلقه توګه وكارول شي نو دده دګټي اندازه به لوړه وي، دی كولاي شي پداسي حساب كي واچوي چي يو كال وخت لري، خو كه ددي اټكل كوي چي كه شر ايط يي ديته اړ كي چي راويي باسي نو دلږ مودي خبرتيا څخه وروسته به يي باسي، نو دی بيا كولاي شي پداسي حساب كي كيږدي چي بيرته يي ورته وسپاري او پدي بايد پوه شي چي دده دګټي اندازه به لږ وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګټو تقسيم

هغه ګټه چي په مشترك مضاربت كي دويش وړ وي هغه عبارت له هغي ګټي څخه ده چي ديوي ټاكلي مودي په دوران كي لاسته راغلي وي، البته دګټي موندل داستثمار په بيلابيلو برخو كي څه مشكل كارندي كه هغه دمضاربت په لار راغلي وي كه دمشاركت له لاري وي او كه د مرابحت له لاري.

هغه نفقات (مصارف) چي قابل د مصرفولو وي

دمصارفو يا نفقاتو په اړوند اسلامي فقهاء بيلابيل نظريات لري ايا په خاص مضاربت كي كاركوونكي كولاي شي خپل مصارف دمال پر څښتن شرط كړي يا نشي كولاي؟

الف: ابن حزم پخپل كتاب محلى كي وايي: كاركونكي ته روا نده چي دمضاربت دمال څخه څه شي وخوري، يا ورنه جامي جوړي كړي كه دسفر په حالت كي وي يا حضر كي وي.

ب- حنفي فقهاء وايي: دسفر په حالت كي مضارب كولاي شي دمضاربت له مال څخه يي مصرف كړي، خو په حضر كي نشي كولاي، البته دسفر په حالت كي به هم يوازي هغه څه مصرفوي چي دده سره تړاو ولري لكه خوراك، جامي، دحمل نقل كرايه او هغه څه چي په سفر كي ضروري وي.

ج مالكي علماء پدي اند دي چي كه چيري دمضاربت مال دنفقي(مصارفو) توان ولري نو په حضر كي هم صحيح ده.

د- شافي فقهاء بيا نفقه دوو برخو ته ويشي لومړي: هغه نفقه (مصارف) چي دمضاربت په مال پوري تړاو لري، دويم: هغه نفقات چي پخپله مضارب شخص پوري لري، لومړي قسم نفقات به دمضاربت له مال څخه وي لكه دمال انتقال له يو ځاي څخه بل ته، له او وركيدو څخه ساتنه او داسي نور، خو مضارب چي څه كار ترسره كوي لكه جامي جوړول، يا ديوي وړي برخي مال انتقال له يو ځاي څخه بل ځاي ته، نو پدي صورت كي مضارب ته پكار نده چي دمضاربت دمال څخه يي واخلي، البته دشافعي فقهاء په اند په مساله كي دوه نظره موجود دي: ظاهر او څرګند يي دادي چي په حضر كي به هيڅ قسم نفقه دمضاربت له مال څخه نه اخلي ځكه امكان لري دمضاربت ټوله ګټه همدا وي نو هغه مقصد چي له مخي دمضاربت تړون رامينځته شوي نه حاصليږي، خو ددوي دويم نظر دادى چي اخستلاي شي يعني دمضاربت دمال څخه نفقه په حضر كي هم اخستلاي شي خو چي دمضاربت دمال لپاره وي.

هـ- حنابله علماء وايي چي په سفر كي ټول مصارف دمضاربت له مال څخه كيږي خو په حضر كي هم كولاي شي پدي شرط چي دتړون پر مهال يي دا شرط كړي وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعلماو ددي اختلاف څخه دي نتيجې رسيږو چې دمضاربت دمال څخه هغه نفقه مصرفول جواز لري چې دعرف له مخې ټاکله کيږي.

اوس پوښتنه داده چې ايا ددي اصولو په رڼا کې مشترك مضارب په تير بيا بانك كولاي شي دغسې نفقه دمضاربت پکار کې مصرف کړي؟

مخکې څرګنده شوه چې مشترك مضارب پخپله کړنه اوعمل کې په هغو شرايطو او قيوداتو مکلف ندي کوم چې خاص مضارب پرې مکلف دي، نو پدې اساس مشترك مضارب ته ددې اړتيا نشته چې دا شرط کړي کله چې مشترك مضارب موسسه او يا بانك وي يعني طبيعي شخص نوي، ځکه بانك تل پداسې ځاي کې وي چې هغه مرکزي او تجارتي حيثيت ولري سربيره پردي بانك پوهه او مسلکي مامورينو ته اړتيا لري چې هغوي ته به دهغوي دمستوا مطابق معاشات ورکوي،دارنګه ګڼ شمير وسايلو او الاتو ته ضرورت لري چې دا واړه کارونه ددي جوګه ندي چې اندازه يې معلومه شي لکه په خاص مضاربت کې چې معلوميږي.

پدې اساس بانك نشي كولاي خپل ټول مصارف په ګډون دمامورينو دمعاشاتو دمضاربت له مال څخه واخلي، ځکه کومه نفقه (مصارف) چې فقهاو جواز ورکړي هغه تر سفر پورې ځانګړې ده، او حنابله و چې په حضر کې جواز ورکړي خو هغه يوازي تر ډوډۍ او جامو پورې خاصه ده، چې دعرف مطابق به يې استعمالوي، سربيره ددي دبانك مصارف دومره لوړ دي چې ديو عادي سړي د قدرت او وس څخه بهر دي، پدې اساس بانك نشي كولاي هيڅ قسمه مصارف دمضاربت دمال څخه واخلي پرته له هغو نه چې صرف دمضارب کار پورې تړاو لري لکه دصادري واردې کتاب، مطبوعات په تيره بيا چې استثماري عمل وي، البته هغه مضاربين (کارکوونکي) چې دبانك سره يې تړون کړي وي او دهمدې بانك سره کار کوي ددوي مصارف به داتفاق مطابق دمضاربت دمال څخه وي دهر يوه به دخپلې دندې او شرايطو مطابق مصرف وي.

## د ګټې د تقسيم اساسامې

بانك دګټې په اړوند دوه حقه ترلاسه کوي:

الف: يوه ګټه بانك پدې لاسته راوړي چې مضارب بلل کيږي، البته دا ګټه به دخپلوا مقرراتو سره سم معلومه او ښکاره وي که هغه نيمه وي دريمه برخه وي او که لدينه زياته يا کمه وي، خو داګټه به له هغې ګټې څخه اخستله کيږي چې په اوږدو دکال کې په ډاګيزه توګه لاسته راغلي وي.

ب: بله پدې اعتبار اخلي چې ديوې برخې هغه مال څښتن ځان بولي چې داستثمار لپاره پکار اچولي شويدي، برابره خبره ده که دغه مال دبانك دراس المال يوه برخه دهغه مال څخه وي چې بانك يې تل احتياط پخاطر ساتي او که

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو مالونو یوه برخه وي چي په جاري حسابونو دبانك كي خلك ږدي اودضرورت پر اساس يي بيرته له بانك څخه اخلي.

كه نوموړي مال دلومړي قسم څخه وي بيا مشكل نشته ځكه بانك تل یوه اندازه مال داحتياط په شكل له ځان سره همداسي ساتي، نو څرنگه چي دبانك مال دي په هماغه اندازه كلني گټه هم دده كيږي، ځكه دی دټولو مالونو دسلامتيا ضامن دی.

البته ددويم حق په هكله موضوع وضاحت ته اړتيا لري ځكه دغه مالونه تل يو له بله گډيږي او كله ايستل كيږي كله بيا بيرته ورته ستنيږي، نو ددي مشكل پر اساس دري فرمولي او فرضي لاري موجودي دي:

الف: هغه مال چي ثابت وي او استثمار لپاره له پيل دكال څخه بيا ترپايه موجود وي.

ب: هغه مال چي څښتن يي ايښي وي چي دكال په اوږدو كي يا ټول بيرته اخلي او يا یوه برخه اخلي.

ج: هغه مال چي دكال له پيل څخه نه و موجود خو دكال په اوږدو كي بانك ته راوړل شوه.

دلومړي حالت يا مال مساله څرگنده او څه مشكل پكښي نشته، ځكه دده دگټي اندازه معلومه ده چي حساب به يي په لاندي توگه صورت نيسي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استثمار اندازه او دحساب نوعیت

ټولي په بانك كي ښودل شوي پيسي 100

ټولي پيسي چي ددي كار لپاره ځانګړي شوي وي په ټوله هغه ګټه كي ضرب وركړي چي د توزيع لپاره خاص شوي وي البته لدينه وړاندي به دبانك برخه ورڅخه وباسي، پدي سره كولاي شي دهر مال دګټي اندازه معلومه شي، يعني كله چي دبانك برخه ورڅخه وايستله شوه، باقي به ټول مال وويشي هر څومره چي ورته ورسيده هماغه ددغه مال چي داستثمار لپاره يي ايښي ګټه ده.

اوكه پخوا له كال پوره كيدو څخه يي دخپل مال يوه برخه وايسته نو دا سړي داسي مثال لري لكه يو كس ته چي دمضاربت لپاره پيسي وركړي وي خو پخوا له معلوميدو دګټي يا تاوان څخه يي يوه بيرته ورنه واخستي چي پدي سره دمضاربت راس المال راټيټ شو نو پدي صورت كي دمالي كال دپوره كيدو سره سم دده حساب به باقي پيسو كيږي پدي معنی چي كله كلني حساب كيږي نو دده هغو پيسو ته به كتل كيږي چي بالفعل موجودي دي دهغو په اندازه به ګټه وركوله كيږي.

ددريم او وروستي حالت په اړوند بايد ووايو چي پدي صورت كي دمال څښتن دكال په اوږدو كي خپل مال بانك ته دمضاربت په شكل وركوي، دبيلګي په توګه كه يو سړي زر ديناره د مارچ په مياشت كي وركړي او بل يي دسبتمبر په مياشت كي وركړي نو دغه مساله وضاحت او بيان ته اړتيا لري چي هغه په لاندي دول ده:

پرته له شك نه چي په خاص مضاربت كي ددغه حالت څرګندتيا نشته، تر څو دهغه پواسطه ورته لار هواره كړو، ځكه خاص مضاربت يومستقل تړون دی چي دكار دشروع څخه وروسته نور مال ورسره نه يوځاي كيږي، مګر هغه اساسنامي اوا صول چي مونږ مخكي څرګند كړو او په ګټي پوري تړاو لرل دهغو په رڼا كي مونږ كولاي شو لار دحل ورته ومومو، هغه پدي معنی چي يوازي داستثمار لپاره په بانك كي دمال ښودل دګټي داستحقاق لامل ګرځي، لكه څرنګه چي شريك په هغه صورت كي چي مال يي سره ګډ كړي نوي دګټي مستحق ګرځي.

دغه كړنه او عمل دبانك په استثماري حساباتو كي دكال په اوږدو كي روانه وي، نو پدي اساس هغه كس چي خپل مال كال په اوږدو كي بانك ته داستثمار لپاره وركړي دګټي مستحق ګڼل كيږي، البته امكان لري ده ته له پخوا څخه ددي ابلاغ وشي چي ستا مال به يوه يا دوه مياشتي وروسته دمياشتي دسر څخه په كار اچول كيږي، ځكه بانك تل دخپلو مالونو داستثمار لپاره ځانګړي پروګرام او پلان لري چي دهغه پلان له مخي پيسي په كار اچوي، دا په خلاف دسودي بانكونو ځكه هلته امكان لري له هماغي دويمي ورځي دده دمال ګټه شروع شي.

خو ددي نيټو داختلاف په صورت كي چي يويي له پيل دكال څخه مال سپاري او بل يي دنيمايي كال څخه وروسته وركوي دحساب فرموله يي په هماغه اساس روانه وي لكه مخكي چي بيان تير شو او هغه دفايدي او نمرو طريقه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، پدي معنی چي پيسي به په ورځو کي ضرب کړي، ترڅو دټولو پيسو وخت او مدت معلوم کړي شي، او دټول کال دهري ورځي اندازه ګټه معلومه شي، نو چا چي زر ديناره لږ مخکي له نيمايي دکال څخه اينښي وي نوداسي به يي فرض کړو لکه ده چي پنځه سوره ديناره له پيل دکال څخه اينښي دي، ځکه دده زر ديناره به په باقي مياشتو کي ضربيږي چي هغه شپږ مياشتي دي، او دغه چي په ټولو مياشتو دکال کي ضرب ورکړي شي خپله پنځه سوه ديناره ورنه جوړيږي.

## د قرض چکونه

دغه چکونه عبارت دي له هغو قرضونو څخه چي شرکت ئي له عام ولس څخه دسودي ګټي په اساس اخلي، دغه چکونه په معاصرو کړنو کي د قبول وړ دي چي بيلوالي نه قبلوي.

شرکتونه کله ناکله دخپلو مالي ستونزو له کبله دغه رنګي چکونه صادروي ځکه دوي دخپلو کړنو دسرته رسولو لپاره زياتو مالونو اړتيا لري او هغه برخي (سهام) چي ترلاسه کړي دي هغه کفايت نکوي نو دخپلو پروژو د پراخوالي او سرته رسولو لپاره دغه چکونه ترلاسه کوي او نه غواړي چي عام ولس ته دنورو برخو (سهمونو) اعلان وکړي ځکه پدغسي صورت کي دشريکانو دګټو برخي ډيري کميږي، پدي اساس شرکتونه له خلکو څخه ددغسي قرضونو غوښتنه کوي، او له بلي خوا ډير داسي خلك وي چي زيات شمير پيسي ئي د راتلونکي ضرورتونو لپاره ساتلي وي، او دغه پيسي ئي يا پخپلوکورونو کي اينښي وي، او يا ئي دبانك په جاري حساب کي اينښي وي، نو دغه پيسي دداسي ګټي لپاره نه استعماليږي چي ټولو هيوادوالو ته ګټه ورسوي، او په هغه صورت کي به يي ګټه رسيږي چي سوداګرانو ته ئي ورکړي ترڅو ئي هغوي پخپلو تجارتي کړنو کي وکاروي، مګر دمالونو څښتنان دا قسم قرضونه ځکه نه ورکوي چي دوي لدينه ويريږي چي دضرورت په وخت کي به بيا لاسته نه ورځي.

ددي ويري له کبله د قرضي چکونه مفکوره راڼا ګيزه شوه ترڅو شتمن ديته وهڅوي چي په قرض ئي ورکړي او ويري له فکرونو څخه وباسي، او ددي لپاره ئي دوه لاري پکار واچولي:

لومړي: شتمنو ته د خپلو قرضونو په مقابل کي د معلومي سودي ګټي تمه ورکول.

دويم: داسي چکونه ورنه جوړول چي هرچاته دمنلو وړ وي، پدي معنی چي که څښتن ئي هر وخت وغواړي دغه چك وپلوري نو کولاي شي په ازاد بازار کي دبازار په نرخ وپلوري چي په زياترو حالاتو کي دبازار نرخ تر هغه نه زيات وي چي پري ليکلي وي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاصر اقتصادي نظام لدي لاري څخه وکولاي شواي چي دخلکو هغه شتمني چي په کورونو کي ایښي وي په کار واچوي، مګر ځرنګه چي دغه کړنه په سودي قرض ولاړه ده نو اسلامي شریعت دغسي کړني ته اجازه نه ورکوي، دا سربیره پردي چي ګڼ شمیر ټولنیز اوشرعي مفاسد ترینه ولاړیږي.

له همدي کبله یو شمیر مسلمانانو په ځیني اسلامي هیوادونو کي ددي چکونو بدیل هڅي وکړي چي وروسته له څیړني څخه ئي د (دمضاربت چکونه) را ویستل، مضاربت لکه مخکي چي بیان تیر شو په اسلامي فقه کي معلومه او پیژندل شوي کړنه ده چي دمال څښتن کارکوونکي ته مال سپاري او هغه پري کار کوي او ګټه ئي ترمنځ شریکه وي.

نو د ددي چکونو څخه بنسټیز هدف دادي چي د څښتن او صادرونکي ترمنځ ئي دمضاربت تړون (عقد) رامنځته شي، او پدي صورت کي به دچك څښتن ته معینه ګټه نه ورکوله کیږي، بلکي که تجارت ګټه وکړي نو ده ته به دفیصدي په حساب ګټه ورکوله کیږي.

دهمدي موضوع په اړوند یو شمیر اسلامي هیوادونو ځانګړي قوانین وضع کړه دهمدي جملي څخه د اردن د 1981م کال قانون، او دپاکستان دشرکتونو قانون چي په کال 1984م کي صادر شو او پدي قانون کي مستقل یو فصل د همدي مضاربوي چکونو په باره کي دي البته مونږ به په لنډ ډول داردن قانون ته اشاره وکړو:

-1د مضاربت چکونه عبارت دي له هغو تصدیق شویو پاڼو څخه چي ځانګړي قیمت لري او څښتنانو په نوم ئي دهغو پیسو په مقابل کي صاردي شویدي چي دپروژي خاوند ته ئي ورکړي ترڅو هغه پري خپله پروژه وچلوي او ګټه یرینه لاسته راوړي.

-2د چکونو څښتنانو ته دپروژي دګټي څخه یو شمیر محدود شي ورکول کیږي،او دغه تحدید به دچکونو دصادریدو پر مهال معلومیږي، دیادوني وړ ده چي دچکونه پخپل ذات کي هیڅ فایده نلري، او نه ئي څښتنانو ته ددي حق شته چي دکلنۍ محدودي ګټي غوښتنه وکړي.

-3په اسلامي فقه کښي که دمضاربت ګټه دکارکوونکي او دمال دڅښتن ترمنځ ددوي دتوافق مطابق دکار یا عمل په پاي کي ویشله کیږي، مګر اردني قانون د مضاربوي چکونو په اړوند وائي چي ګټه به هر وخت یا دکار په پاي کي نه ویشله کیږي، یوازي دچك څښتن ته هغه ځانګړي شوي ګټه ورکړله کیږي، نو دهر کار په پاي کي دده ځانګړي ګټه ورکوله کیږي او دچك صادرونکي جهت ته نه ورکوله کیږي بلکي دا ګټه به دپروژي سره محفوظه پرته وي ترڅو ددي ګټي څخه په تدریجي توګه هغه پیسي پوره کړي چي دچکونو څښتنان ئي غواړي.

-4دچك په هر خاوند لازمه ده چي دتړون له مخي په ټاکل شوي وختونو کي خپل چکونه وړاندي کړي، او له صادرونکي جهت څخه به غوښتنه کیږي چي دچکونه نومول شوي قیمت ورته ورکړي، اوپدي سره به هغه مال بیرته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستون کړي چي دسند په عوض کي ورکړي و، البته په چك په صادرونکي جهت لازمه ده چي دچك نومول شوي قيمت سره له ساتلي ګټې ورته وسپاري، لکه مخکي چي بيان وشو.

5-پدي سره دچکونو څښتنان هغه مال چي پروژي ته ئي ورکړي تر هرڅه مخکي بيرته لاسته راوړي، ترڅو پدي سره دټولو خاوندانو دچکونو معامله تصفيه شي، اوددي کړني په کولو سره به صادرونکي جهت دپروژي او دهغي دټولو الاتو څښتن وګرځي، چي په پايله کي به ټوله پروژه دصادرونکي جهت دهغو چکونو ګټه شي چي پکار ئي اچولي وو.

6-کچيري پروژه له تاوان يا خساري سره مخ شي، نو قاعده داده چي دغه تاوان دچکونومالکان پرغاړه واخلي، ځکه دوي دمالونو څښتنان دي، مګر داردن قانون پدي ټينګار کړي چي دغه تاوان به دچکونو څښتنانو ته حکومت ورکوي او هغه به په قضيه کي دريم لوري واقع کيږي، پدي معنی چي دتاوان ضامن به حکومت وي، او هغه به دچك نومول شوي تاوان ګالي، کچيري داسي تاوان وشي چي دپروژي ټوله سرمايه پکښي له منځه لاړه شي نو حکومت به ددي جبيره کوي او دچکونومالکانو ته به پيسي ورکوي.

7-البته حکومت چي کوم تاوان دچکونو څښتنانو ته ورکوي دا به دچکونو په صادرونکي جهت قرض وي، کله چي بيرته په پښو ودريږي نو دغه قرض به دوباره حکومت ته سپاري.

دا داردن دقانون لنډيز و چي د مضاربت دسندونو په اړوند ئي خپور کړي، خو که ديته په ځير وګورو ګڼ شمير ستونزي ورسره مل دي چي ځيني په لاندي ډول دي:

1-دمضاربت طبيعي بڼه دا ده چي هيڅوك نه دسرمايه ضامن کيداي شي او نه دګټې، ځکه چي په مضاربت کي چي څه ګټه لاسته راځي هغه تجارتي ګټه ده، او تل تجارتي ګټه هغه وخت لاسته راځي چي تاوان ورسره تړلي وي، کله چي سرمايه دکوم لوري له خوا ډاډمنه وي (مضمونه) وي بيا دمضاربت تړون (عقد) ورته نشي ويل کيداي، نو داردن په قانون کي راغلي چي دچك دنومول شوي قيمت ضمانت ورکول کيږي، دغه شرط داسلامي مضاربت سره اړخ نه لګوي.

2-که څوك ووائي چي کوم کس چي ددغه چك ضمانت کوي هغه دچك صادرونکي جهت ندي او نه کار کوونکي دی، بلکي حکومت چي دريم لوري بلل کيږي ددي ضامن دی، او په شريعت کي چي کومه منع راغلي هغه داده چي دتړون (عقد) کوم لوري د بل لوري دمال ضامن شي، خوکه دريم سړي را وړاندي کيږي او دتاوان پر مهال ئي ضمانت کوي نو دا خو دشريعت سره څه ټکر نخوري.

ددي په ځواب کي بايد وويل شي دغه رنګي عبارت داردن په قانون کي ندي راغلي، ځکه حکومت دچك دنومول شوي قيمت ضمانت په خيراتي (تبرعي) توګه نکوي لکه يو څوك چي پخپل تجارت کي تاواني شي او بل کس دمرستي او خيرات په توګه دا تاوان ورکړي، بلکي حکومت دغه نومول شوي تاوان د چك دصادرونکي په نماينده ګي ورکوي،له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدي كبله هغه مال چي حكومت ئي خلكو ته وركوي، په صادرونكي جهت ئي قرض دى، هر كله چي دسنداتو پيسي وسپاري حكومت ته به خپل قرص سپاري، نو څرنګه چي صادرونكي جهت پدي ملزم دى چي دحكومت قرض به وركوي ددي معنى داده چي په حقيقت كي صادرونكي جهت دده دسند ضامن دى نه حكومت.

-2كچيري دحكومت په قانون كي بدلون راشي او حكومت پدغه مساله كي ځان (متبرع) وګني، او داسي وښي چي كوم مال ئي دتاوان پر مهال خلكو ته وركړي دهغه ذمه وار صادرونكي جهت ندي نو بيا به دقانو عبارت داسي راشي (ددريم لوري لخوا ضمانت) ددي فرمولي بنسټ په اسلامي فقه دكفيل سره ورته والي لري، مګر په اسلامي فقه كي هغه مهال كفيل ضامن دي چي كفيل ئي له اصيل نه بيااخلي نو واقعيت كي ضمانت اصيل ته راجع كيږي، لكه قرض، دپلورل شوي توكي قيمت، او داراز ټول قرضونه كچيري اصيل ضامن د كفيل نوي نو كفالت نه صحيح كيږي، لكه امانت، دشركت يا مضاربت سرمايه او داسي نور، دغه فقهي فرموله دټولو علماو په نزد صحيح ده چي هيجا پكښي اختلاف ندى كړي.

مرغيناني پخپل كتاب هدايه كي وائي:

"كفالت په مضمون كړي شويو توكو كي كه څه هم زمونږ له نظره صحيح ده او امام شافعي رحمه الله ورسره مخالف دى، خو دغه به پخپل ذات سره مضمون وي، لكه په فاسده بيعه كي پلورل شوي توكي، يا غصب كړي شوي شيان، نه پدي معنى چي په بل شي سره به مضمون وي، لكه پلورل شوي توكي، ګروشوي شيان، اونه داسي چي هغه دامانت بڼه ولري لكه خپله امانتي شيان، يا په عاريت اخستونكي توكي، يا مستاجر، يا دمضاربت مال او ياهم دشركت مال "
.

دارنګه خطيب شربيني شافعي وائي:

"دهر عين چي دچا په لاس كوي هغه مضمون دى پدي سره چي بيرته به يي سپاري، او ددغسي عين ضمانت صحيح دى، لكه غصب كړى شوي توكي، عاريت اخستل شوي توكي، او هغه پلورل شوي توكي چي تسليم (قبض) كړي ئي نوي، مګر كچيري عين دهغه چا په لاس كي چي وي او مضمون نوي لكه امانت، دشريك سره مال، وكيل،او وصي نو دوي پدي ملزم ندي چي ضامن به وي، ځكه پدوي دا لازمه ده چي پري ئي ږدي نه دا چي بيرته ئي رد كړي. "

بن الهمام وائي:

"دخساري ضمانت غلط او باطل دى، ځكه ضمان په هغه څه كي راځي چي هغه مضمون كړي شوي وي، او د تاوان ضامن هيڅوك ندى، آن كچيري پلورونكى په بازار كي ووائي: ټول تاوان چي درته رسيږي هغه پر ما، او يا د مرئي پيردونكي ته ووائي: كچيري دا مرئي وتښتيده نو تاوان ئي پرما دا صحيح نده. "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتنیو شیانو کي دکفالت دنه صحت لامل دا دی چي دکومو پیسو کفالت ئي کړي کفیل دقضاء له مخي پدي مکلف ندي چي دهغه تاوان به ورکوي، دا راز دچا چي کفالت شوي نو هغه ته دا صحیح نده چي محکمي ته لاړ شي او له کفیل څخه تاوان وغواړي، مګر داچي دریم لوري خپل ځان پدي مکلف ګڼي چي دتاوان پر مهال به دی تاوان ورکوي دا یوازي ژمنه بلله کیږي چي ددین له مخي وفا کول پري لازمي دي مګر دقضاء له مخي مکلف ندی چي وفاء به پري کوي، کچیري اوس دریم لوري پخپله ژمنه وفاء وکړي او نوموړي پیسي وسپاري، نو دسند(چك خاوند ته روا ده چي وائي خلي، مګر قاضي نشي کولاي چي کفیل پدي مکلف کړي چي پخپله ژمنه به ارومرو وفاء کوي.

ایا اوس کولاي شو چي دمالکیانو پر مذهب عمل وکړو او ووایو چي دقضاء په وړاندي کفیل مکلف دی چي پخپله ژمنه وفاء وکړي؟ کچیري مونږ دغه ژمنه ملزمه وګڼو نو ضمانت بیا لازمي بڼه خپلوي، پدغسي صورت کي دفقهاو ددي قول معنی له مینځه ځي چي وائي: دمضاربت او شرکت دسرمائي کفالت نه صحیح کیږي.

## د مضاربت دسندونو (چکونو) دپوره کولو مساله

داردن په قانون دریمه نیوکه داده چي: دمضاربت دچکونو هغه پیسي څښتنانو ته سپارل چي نومول شوي وي، پدغي رنګي پیسي سپارل موضوع د مضاربت څخه وزي او دقرض بڼه خپلوي.

البته ددي موضوع لا وضاحت لپاره به لومړي دمسالي فقهي بڼه وڅیړو: حقیقت دای چي دچکونو ختمولو معنی داده چي دمضاربت مال به دچکونو څښتنانو ته د مال دڅښتن لخوا ورکول کیږي، البته کچیري دمضاربت مال ټول نقد شوي وي بیا مسله اسانه ده، مګر ستونزه هغه وخت رامنځته کیږي چي دمضاربت مال په توکو بدل شوي وي، ځکه پدغسي صورت کي به دمضاربت مال سپارل داسي معنی ورکړي چي له مضارب څخه دغه توکي په بیعه اخلي، ځکه ټول اخستل شوي توکي دمالونو دڅښتنانو ملکیت ګڼل کیږي، او مضارب په عین دتوکو کي هیڅ حق نلري، بلکي کچیري خرڅ شي او ګټه وکړي نو په ګټه کي دده برخه شته، اوس کچیري دچك څښتن صادرونکي جهت ته خپل چك وړاندي کوي ترڅو خپل مال ترلاسه کړي نو دغه کړنه پداسي حال کي کوي چي دمضاربت ټوله سرمایه یا زیاتره سرمایه په صنعتي اویا تجارتي پروژه بدله شویده، نو دچك خاوند له صادرونکي جهت څخه خپله په پروژه کي ګډه (خلطه ) شوي برخه پلوري، پدي اساس ددغسي چکونو پیسي سپارل دبیعي په احکاموکي داخلیږي چي هغه په لاندي ډول دي:

لومړي: ایا دمال څښتن ته روا ده چي دمضاربت څخه خپل مال پداسي وخت کي ستون کړي چي هغه نقد شوی نوي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم: ايا دمضاربت په تړون (عقد) کي ددغسي ستنيدو شرط جواز لري؟

دريم: کچيري دمضاربت څخه دمال ستنيدنه روا وي نو ايا هغه به دچك نومول شوي قيمت په اندازه پيسي ستنوي او که به دبازار دقيمت په اندازه پيسي ستنوي؟

لومړي مساله: دمضاربت څخه پداسي حال کي بيرته مال اخستل چي هغه نقد شوي نوي دفقهي له نظره دا دمضاربت فسخه کول او يا د مضاربت له تړون (عقد) څخه ځان ايستل دي، فقهاء وائي پدغسي حالت کي په مضارب لازمه ده چي اخستل شوي توکي وپلوري.

په الدر المختار کي راغلي دي: مضارب دمال دڅښتن په لري کولو سره له مضاربت نه وزي.... کچيري په لري کولو خبر شو او دمضاربت مال دتجارت توکي و نو هغه به پلوري. "

ابن قدامه په مغني کي ويلي: "مضاربت له هغو تړونونو (عقودو) څخه دی چي ديو طرف په فسخه کولو سره فسخه کيږي، کچيري دمضاربت تړون (عقد) فسخه کړی شي او مال دمضاربت په تجارتي توکو بند وي بيا دواړه لوري په پلورلو يا تقسيم اتفاق وکړ نو دا روا ده، ځکه حق ددوي دواړو دی دبل چا ورسره شرکت نشته... کچيري دمال څښتن د دمضاربت دمال دپلورلو غوښتنه وکړي او مضارب (کارکوونکی) ئي ونه مني نو پدي کي دعلماو دوه نظره دي: يو داچي مضارب به په پلورلو مجبوريږي چي دا دشافعي رحمه الله نظر دی ځکه په مضارب لازمه ده چي خاوند ته داسي مال وسپاري لکه څرنگه ئي چي ترينه اخستي دی، او دويم نظر دادی چي په پلورلو نه مجبوريږي په تيره بيا هغه مهال چي په خرڅولو دمال کي گټه نوي، يا دمال څښتن ووائي چي دمضارب حق پکښي نشته. "

ددي څخه داسي څرگنده شوه چي دمضاربت څخه دمال ستنول دشريعت له مخي جواز لري، او پدغه مهال کچيري دمضاربت پيسي په توکو بدلي شوي وي نو هغه به پلوري، دا څرگنده ده چي کچيري غواړي دغه دمضاربت مال په دريم کس وپلوري نو جواز لري نو څرنگه چي ددريم کس سره عقد جواز لري دارنگه دمال دڅښتن او مضارب ترمنځ هم دغه دبيعي عقد جواز لري، مضارب کولاي شي دغه توکي دځان لپاره واخلي، او خاوند دمال ته خپلي پيسي ورکړي، نو پدي سره به دمال څښتن خپله سرمايه او گټه واخلي او مضارب به هم خپله گټه واخلي.

دويمه مساله: دمضاربت دمال ستنول دبيعي دتړون (عقد) له مخي، دا هم جواز لري، ځکه داسي شرط دی چي دمضاربت دتړون دغوښتني مخالف ندی، ځکه دمال څښتن کولاي شي چي دمضاربت هر وخت چي وغواړي دمضاربت تړون (عقد) ختم کړي نو ختمولاي ئي شي، پدي حالت کي په مضارب لازمه ده چي توکي وپلوري او دمال څښتن ته خپله سرمايه سره دگټي وسپاري، نو په مضاربت کي دبيعي شرط داسي شرط دی چي دمضاربت دتړون (عقد) له فطرت څخه دی پدي معنی چي ورسره منافي ندي، مگر يوه خبره دلته داده چي دمضاربت دمال توکي يوازي په مضارب پلورل کيږي، او دا هم دشريعت له مخي څه ممانعت نلري، ځکه دمال څښتن او مضارب ترمنځ دمضاربت په مال دبيعي عقد دگڼ شمير علماو له نظره جواز لري، کاساني وائي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په مضاربت کي دمال څښتن او مضارب دواړه کولاي شي يو له بله دمضاربت مال واخلي او خرڅ کړي، اګرکه دمضاربت په مال ګټه هم نوي دا دابوحنيفه ابويوسف او محمد نظر دی، مګر زفر وائي چي نشي کولاي، ځکه دده له انده دا دمال خرڅول او اخستل دي په مال باندي او مال يوازي دخاوند ومال ملکيت دی نه دمضارب، نو پدي اساس جواز نلري، لکه وکيل له موکل سره، خو نور دري واړه امامان وائي: دمضاربت په مال کي دمال څښتن دسرمائي مالك دی، نه دتصرف، او دتصرف په حق کي دپردي په څير دی، او مضارب پکښي دتصرف ملکيت لري نه دسرمائي، په سرمايه کي دپردي په شان دی، تردي چي دمال څښتن نشي کولاي له تصرف څخه ئي منع کړي، نو ددواړو په حق کي دمضاربت مال داسي مثال لري لکه دپردي مال چي وي، له همدي کبله پلورل او پيرودل صحيح دي. "

ددي فرمولي پر اساس کچيري مضارب دمال په څښتن بيعه شرط کړي نو دا دمضاربت دتړون سره ټکر نخوري، او په شريعت کي دا روا ده.

دريمه مساله: ايا دمضاربت دچکونو قيمت به نومول شوي قيمت وي او که دبازار قيمت؟ داسي ښکاري چي غوره به دا وي چي دبازار قيمت ورکړي، کچيري دبازار دقيمت او نومول شوي قيمت ترمنځ توپير موجود وي نو دغه توپير به دمضاربت دمال ګټه شي، چي دمال دڅښتن او مضارب ترمنځ به ددوي دتړون پر اساس وويشل شي.

ددي مثال داسي دي: کچيري مونږ فرض کړو چي نومول شوي قيمت دچك سل افغانۍ دی او دورکړي پر مهال ئي بازاري قيمت يوسل او شل افغانۍ و، اوس کچيري مضارب اخستل غواړي دمضاربت مال ته به يوسل اوشل افغانۍ ورکړي، چي دغه زيادت (شل افغانۍ) دمضاربت په ګټه کي راشي، کچيري دمضاربت تړون (عقد) په نيمائي شوي وي نو لس به دمال څښتن ته ورکړي او لس به مضارب ته پاتي شي، پدي سره به مضارب دپروژي هغه برخه په يو سل او شل افغانۍ واخلي چي ددغه سند مقابل کي په پروژه کي موجوده وه.

داچي دسند قيمت به دبازار قيمت وي ددي دليل دادی چي اصل کي دمضاربت مال ټول دمال دڅښتن دی، مضارب پرته له ټاکل شوي ګټي نه بل حق په مال کي نلري، کچيري اوس د سند قيمت په بازار کي لوړ شوي وي، نو ددي معنی دا ده چي دمضاربت په مال کي زيادت راغلي دی، او مضاربت مال په ګډون د زيادت دمال دڅښتن ملکيت دی، کچيري دمال څښتن ته اوس دچك يا سند هغه نومول شوي قيمت ورکوي نو دا له شريعت په وړاندي جواز نلري، ځکه دا دمضاربت دتړون (عقد) سره منافي دی، فقهاء په زغرده دغه مساله بيان کړيده، کاساني رحمه الله وائي: " کچيري مضارب دمضاربت په مال توکي را ونيسي او پدي کي زيادت وي يانوي، خو وروسته دمال څښتن وغوښتل چي دا خرڅ کړي، مګر مضارب ددي سره مخالفت کول او غوښتل ئي ترهغه پوري ونه پلورل شي ترڅو ئي چي ګټه نوي کړي، پدي حالت کي به مضارب ديته اړ کيږي چي خرڅ ئي کړي، اويا دا چي دمال څښتن ته ئي خپله سرمايه وسپاري،ځکه دمال څښتن ددي دخپلي ارادي څخه پدي خاطر منع کول چي دبل چا حق کيداي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي پکښي ثابت شي چي هغه ګټه ده، دا هيڅ اساس نلري، بلکي هغه ته به ويل کيږي که ته غواړي چي پاتي شي نو ما ته خپله سرمايه راکړه، او کچيري پکښي ګټه وي نو ورته به ووائي ماته خپله سرمايه سره دګټي راکړه، او سامان به ستا شي. "

ددي څخه څرګنده شوه چي دمال څښتن يوازي دنومول شوي قيمت ( چي هغه سرمايه ده) مستحق ندی بلکي ددي سره سره د ګټي مستحق هم دی،له همدي کبله صرف دسند نومول شوي قيمت نه ورکول کيږي، بلکي لازمه ده چي بيعه دسند به بازاري قيمت ترسره شي، بيابه ګټه ددوي دواړو ترمنځ دخپل تړون (عقد) پراساس ويشله کيږي.

ددي پورته څرګندونو څخه په لنډ ډول دري حالات واضح کيږي:

لومړي: کچيري دسند (چك) اسمي قيمت دبازاري قيمت سره يو شانته وي نو خبره ختمه ده هماغه قيمت به ورکړي او مساله به پاي ته ورسيږي.

دويم: کچيري بازاري قيمت داسمي قيمت څخه کم وي، نو دبازاري قيمت په اندازه پيسي به ورکړي او کوم کمښت چي راغلي هغه به دسند دخاوند په تاوان کي شمار شي.

دريم: کچيري بازاري قيمت داسمي قيمت څخه لوړ وي نو پدي صورت کي به هم دبازاري قيمت په اندازي پيسي ورکوي البته زيادت په ګټه کي شميرل کيږي چي دمال دڅښتن او مضارب تر منځ شريکه ده نو هغه به پخپلو مينځو کي دخپل تړون پر اساس وويشي.

دبانکونو په اړوند يو شمير نوري مسائل هم موجود دي لکه په ربوي بانکونو کار کول، يا پدغسي بانکونو پيسي ښودل دا مسائل به په مختصر ډول په لاندي توګه وڅيړو:

په سودي بانکونو کي کار کول:

مخکي څرګنده شوه چي سودي بانکونه په واقعيت کي سودي موسسات دي، او سود په اسلام کي حرام دی، نو څرنګه چي سود حرام دي دارنګه پدغسي بانکونو کي چي په سود روان دي کار کول هم پکښي حرام دي، چي ددغه حرمت دوه لاملونه دي:

لومړي: په سودي بانکونو کي کار کول دهغوي سره مرسته او په ناروا کي ګډون کول دي، چي دغه کړنه په ناروا کي کمك او مرسته بلله کيږي الله پاك مومنان ددغسي کړني څخه منع کړيدي پدي اړوند ئي داسي فرمايلي دي: "وتعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الإثم والعدوان. "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کوم کارونه چې دنیکي او خداي پالني دي په هغوکي له ټولو سره مرسته وکړی، او کوم کارونه چې دګناه او تیري دي په هغو کي دهیڅا ملاتړ مکوی.

قرطبي پخپل تفسیر کي ویلي دي: دا آیت دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دهغي وینا سره برابر دی چي ویلي دي: هغه کس چي نیك کارونه خلکو ته ښي دهغه ثواب دهغه سره برابر دی چي کوي ئي" او داسي هم ویل کیږي چي بدو کارونو ته خلك رابلل دهغه سره برابر دی چي کوي ئي.

دارنګه دي زیاتوي: دظالم او تیري کوونکي څخه مخ اړول او دهغه مرسته نه کول فرض دي، دخپلي ناروا څخه ئي ګرځول واجب دي.

ابګن کثیر وائي: له باطل او تیري څخه به ئي منع کوي او په تیري او ګناه کي به ورسره مرسته نکوي.

پدي کي شك نشته چي دغه آیت عامه قاعده ده او فقهاو دلیل پري نیولي چي دفتني پر مهال به سلاح نه پلوري، ځکه دا دتیري کوونکو سره مرسته ده.

نووي په شرح المهذب کي ویلي دي: " په هغه چا دانګورو خرڅول حرام دي چي هغه شراب ورڅخه جوړوي، دارنګه دخرماء خرڅول په هغه چا چي نبیذ (دشرابو یو ډول) ورڅخه جوړوي، او سلاح پلورل په هغه چا چي دالله احکامو نا فرماني کوي، ځکه لري نده چي دا دالله پاك په نافرماني کي مرسته وي. "

مالکي علماو ذکر کړي که یو څوك په زور (غصب) یو شي له چانه واخلي بیا ئي ورثه و ته پاتي شي اویائي چاته په تحفه ورکړي نو وارث او تحفه ورکړی شوي په تاوان کي دغاصب په شان دي.

ددي څخه څرګنده شوه چي هغه مامور چي په سودي بانك کي کار کوي دا ورته معلومه ده چي بانك په سود ولاړ دی، او خلکو مالونه په ناروا توګه اخلي، او دا هم ورته معلومه ده چي دده معاش ددي سود دپیسو څخه دی نو دا دهغه وارث او تحفه ورکړی شوي په څیر دي چي ښه پته ورته لګیدلي وي چي د مورث او تحفه ورکوونکي مال په زور (غصب) له چا اخستل شوي.

دویم: فقهاو څرګنده کړیده چي د هغه چاسره معامله او کړنه حرامه چي زیاتره مال ئي حرام وي.

ابن المنذر ویلي دي: علماء پدي کي بیل بیل نظریات لري چي له هغه چا سره پلورل اوپیردل دهغه تحفه قبلول دهغ جائزه قبلو صحیح دي چي په مال کي حرام او حلال دواړه موجود وي، حسن، مکحول، زهري، شافعي وائي دا رخصت دی، که څه هم چي شافعي رحمه الله وائي: زه دا خوښه نه ګڼم.

مګر یو شمیر علماو ورته حرام ویلي لکه: ابن المسیب، قاسم بن محمد، بشر بن سعید، ثوري، محمد بن واسع، ابن المبارك، او احمد بن حنبل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن القيم ويلي چي داحمد فتوا ئي نقل کړي: کچيري ديو سړي زياتره برخه دمال حرامه وه دهغه دمال خوړل حرام دي پدي معنی چي ډوډۍ به ورکره نخوري او نه به ئي ميلمستيا ته ورځي. .

له شيخ الاسلام بن تيميه څخه دهغه چا په اړوند پوښتنه وشوه چي دمال زياتره برخه ئي حرامه وي، لکه رشوت خوړونکي او سود خوړونکي يا داسي نور، ايا ددوي ډوډۍ خوړل روا دي ددوي سره معامله جواز لري؟ هغه وويل: کچيري په مال کي حرام او حلال دواړه ګډ وي بياپدي کي شبهه ده، ترهغه وخته حرام نشو ويلاي ترڅو چي څرګنده شوي نوي چي هغه څه ورکوي چي حرام دي ، او نه دحلال حکم پري کولاي شو ترهغه پوري چي څرګنده شي چي دحلال مال څخه ئي ورکوي، کچيري حلال زيات وي حرام کم بيا دمعاملي دحرمت حکم نشو کولاي، او کچيري حرام زيات وي نو بيا علماء دوه نظره لري يو دا چي معامله ورسره روا ده او بل داچي نده روا، مګر هغه څوک چي دسود کاربار کوي نو دهغه زياتره مال حلال وي ځکه ده چي کله يو زر روپۍ په دوو خرڅي کړي نو هغه زيادت ناروا دي، کچيري بيا مال سره خلط اوګډ شوي وي يعني حلال او حرام سره ګډ شوي وي نو حلال مال ئي نه حراميږي، نو معامله کوونکي به هغه حلال مال ورنه اخلي، لکه دوه شريکان چي کله ئي مال سره ګډ شي دوي به ئي ترخپل منځ ويشي، دارنګه حلال او حرام چي سره ګډ شي حرام به ورنه وباسي او باقي به حلال پاتي شي.

دابګن تيميه دخبرو څخه څرګنده شوه چي اعتبار اکثريت ته دی کچيري زياتره مال حلال وي معامله ورسره جواز لري او زياتره مال ئي حرام وي نو معامله ورسره جواز نلري.

دا يو څرګند حقيقت دی چي په سود ولاړ بانك خپلو مامورينو معاش دهمدي سود دپيسو څخه ورکوي، ځکه دا ناشوني ده چي دسرمائي څخه هغوي ته معاشات ورکړي.

له فقيه ابو جعفر څه دهغه چا په اړوند پوښتنه وشوه چي خپل مال ئي د اميرانو، حاکمانو، او له ناروا جريمو څخه لاسته راوړي وي، که چاته دده دمال په هکله معلومات وي بيا روا ده چي دده ډوډۍ وخوري؟ هغه په ځواب کي وويل: زما په نزد ددين په لحاظ دا غوره ده چي وئي نخوري، دغه حکم هغه چاته هم شامل دی چي غذا ئي د غصب او رشوت دپيسو څخه وي.

دارنګه ئي دي خبري ته غوره والی ورکړي که څوك مړ شي اومال ئي حرام وي نو په وروثه و ئي ميراث حرام دی.

مګر کچيري حلال او حرام دواړه سره ګډ شوي وي بيا تر هغه پوري تصرف صحيح ندی ترڅو چي دحرام مال په اندازه ورنه ايستلي نوي.

نووي وائي: دچا چي ټول مال حرام وي دهغه سره بيعه صحيح نده، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړي له مال دکاهن او مهر دزناکاري څخه زياتوي: له زهري څخه نقل شوي: که دچا وينځه په زنا سره ډير مال ترلاسه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي نو بادار ته ئي روا نده چي هغه وخوري، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له مهر دزناکاري څخه منع کړي "
.

ددي څخه داسي جوتيږي چي دبانك حرام یا دسود مال دحلال په پرتله څوچنده زیات دی، او دحراموالي دلیل ئي په واضحه توګه موجود دی ځکه چي دسود کړنه او معامله کوي، نو پدي اساس هر ډول مرسته ورسره ناروا او نا مشروع ده.

امام غزالي وائي: کچیري دپلار یا مور مال حرام او یاپکښي شبهه وي نو زوي ته پکار ده چي دهغه مال له خوړلو څخه ډډه وکړي، کچیري مور اوپلار پدي کار خپه کیږي نو دحرام په خوړلو کي به ورسره موافقه نکوي، ځکه دخالق په معصیت کي دمخلوق اطاعت نشته. "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ضرورت د ادعا له مخې په سودي بانکونو کې کارکول

ایا په سودي بانکونو کې پدې ادعا چې مجبور او اړ یم کار کوم دا جواز لري؟ ګڼ شمیر مسلمانان دهمدې دعوې پر اساس په سودي بانکونو کې کار کوي او دغه ئې دځان لپاره دلیل نیولې، ددې ترڅنګ دا هم وائي چې بل کار ورته نه پیداکیږي، او که پیدا شي نو معاش ئې ډیر لږ وي، دده او دعیال دنفقې کفایت نکوي.

ددې په ځواب کې باید ووایو چې ضرورت په شریعت کې دیته ویل کیږي چې کچیرې حرام ونخوري نو یا هلاکیږي او یا هلاکت ته نیږدې کیږي.

علماء وائي: ضرورت دتل لپاره حرام شي نشي مباح ګرځولې چې ټول عمر ئې خوري، اختلاف یوازې پدې کې دی چې ایا حرام شي دمړښت تر اندازې خوړلای شي؟ ځیني وائي کچیرې داسې لوږه وي چې دی پدې اند وي چې تر ډیرې مودې پورې حلال نشي موندلای پدې وخت کې بیا دمړښت تراندازې له حرام څخه خوراك جواز لري.

اوس که بانکونو ته راشو نو هلته دکار په پرېښودو سره نه هلاکیږي او نه هلاکت ته نیږدې کیږي، یوازې دومره کیږي چې دده او کورنۍ ژوند ئې د هوساینې او کمالیاتو له مستوا ټیټیږي چې هیڅ عالم پدغسې وخت کې دحرام خوړلو اجازه نده ورکړې.

دویم داچې شرعي احکام باید له عقیدې سره تړاو ورکړي شي، او دمسلمانانو دا عقیده ده چې روزي او رزق دالله له لورې لیکل شویدي، الله تعالی فرمایي: " وفي السماء رزقکم وما توعدون. "

ژباړه: په همدې اسمان کې ده ستاسې روزي هم او هغه شي هم چې له تاسې سره دهغه وعده کیږي.

او په بل ځاي کې فرمائي: " إن الله هو الرزاق ذو القوۍ المتین. "

ژباړه: الله خو پخپله ښه روزي رسان دي دډیر قوت خاوند او زورور دی.

نو چا چې دالله پخاطر یو شي پرېښود الله به دهغه ښه عوض ورکوي.

البته دا صحیح نده چې دشرعي احکامو او عقیدې ترمنځ بیلتون راولو او دا ووایو چې دا یو څه دي او دا بل څه، ځکه مسلمانانو دنورو څخه پدې بیل او جلا دي چې دوي یوازې په ماده او اسبابو تکیه نکوي، او نه په هغو پورې څه تړي، په خلاف د ماده پرستو ځکه هغوي پرته د ارقامو اوبشري حساباتو نه هیڅ حرکت نکوي، نه په قدر ایمان لري او نه په پرېښودو دحرامو سره بندګي کوي.

صحابه و به دحرامو په پرېښودلو سره دالله بندګي کوله سره ددې چې زیات به ورته محتاج وو، ځکه هغوي خورا بیوزله او فقیران وو، کله چې په خیبر کې داهلي خرو غوښې پداسې حالت کې حرامې شوې چې دوي په دیګونو کې اچولي وي او پخولي ئې، نو دحرمت دخبر درسیدو سره سم ئې هغه واړولې، سره ددې چې دغه ددوي مال و او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قيمت ئي لرل، خوكله چي شريعت حرامي كړي هيڅ ارزښت ئي قيمت ته ورنكړ او سمدستي تويي كړي، پرته ددينه چي دوي ئي د عوض انتظار ايستلاي واي، ځكه دوي پدي عقيده و چي چا دالله پخاطر يو شي پريښود نو الله هغه ښه عوض وركوي.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم دحلال مال او نيك عمل تر منځ يوځايوالی راوستي، چي خپله ددي څرگندوي دي چي لومړي ددويم سره تړاو لري، دعمل قبليدل په پاك رزق ولاړ دی، او دغه خبره ابن رجب پخپل كتاب (جامع العلوم والحكم) كي كړيده هغه ويلي دي: " هيڅ عمل نه قبليږي او نه پاكيږي مگر هغه مهال چي خوراك ئي حلال وي، او دحرامو خوړل دعمل دبربادي لامل دی چي الله دغسي وخت عمل نه قبلوي، هغه پدي اړوند داسي فرمائي: " ږن الله لا يقبل ږلا طيبا وږن الله ډمر المړ منين بما امر به المرسلين، فقال: يا ډيهاالذين كلوا من الطيبات واعملوا صالحا "

ژباړه: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي: الله پاك پرته دحلال او پاك مال څخه بل شي نه قبلوي او الله پاك مومنانو ته په هغه څه امر كړي لكه څرنگه چي پيغمبرانو ته كړي هغه ويلي: اي مومنانو حلال او پاك خواړه وخوري او نيك عملونه ترسره كړي.

دارنگه الله پاك فرمايلي دي: " يا ډيها الذين آمنوا كلوا من طيبات ما رزقناكم "

ژباړه: اي مومنانو! كه تاسي په رښتيا سره دهمدي الله بندگي كوونكي ياست نو كوم پاك شيان چي مونږ دركړيدي هغه په بي پروايي سره خوري.

دي زياتوي: ددي څخه موخه او مقصد دادی چي پيغمبران او امتونه ئي پدي ورته امر شوي چي دپاك مال څخه به خپله غذا برابروي او هغه به خوري يعني حلال به خوري، او نيك عملونه به كوي، نو كله چي خوراك حلال وي نيك عمل قبليږي، او كله چي بيا خوراك حرام څه ډول به عمل قبول شي؟.

## ايا په بانكون كار يو له بله توپير لري؟

كه واقعيت ته وگورو نو په سودي بانكون كي كاركول يو له بله توپير لري دبيلگي په توگه كه يو څوك په سودي بانك ليكونكي وي، يا په محاسبه كي كاركوي او يا هم دتړونونو (عقدونو) ليكنه ترسره كوي ددوي كار او كړنه په عام وخاص ډول حرامه ده، په عامه توگه ځكه حرامه ده چي دوي په ناروا كارونو كي گډون كړي، چي هغه دسودي بانك سره همكاري او مرسته ده او الله تعالی دا حرام گڼلي لكه مخي چي بيان تيرشو.

دويم داچي دداسي چا سره كار كوي چي دهغه دمال زياتره برخه دحرامو څخه تشكيل شوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په خاصه توګه ځکه حرامه ده چې دغه کارکوونکي په قاطع نص سره لعنتي کړي شوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " الله پاك لعنت وائي دسود په اخستونکي، ورکوونکي، لیکونکي، او شاهدانو. "

څوك چې دپیغمبرصلی الله علیه وسلم دلعنت لاندي رغي هغه دالله پاك درحمت څخه لري شو.

مګر هغه څوك چې په سودي بانك بله داسي وظیفه اجرا کوي چې خاص اهمیت نلري لکه اشپز، مستخدم او داسي نور ددوي عمل اوکار هم په عامه توګه حرام دی، چې دلیل ئي وړاندي بیان شو، او هغه عبارت وه لدینه چې په ګناه او تیري کي دهغه مرسته ده، دارنګه لداسي چا سره معامله ده چې دمال زیاتره برخه ئي حرامه ده.

ددي څخه څرګنده شوه چې په سودي بانکونو کي کار کول په ټوله کي حرام دي که څه هم دغه حرمت اوګناه یو له بله توپیر لري.

## په سودي بانکونو د پیسو یا شتمنیو ښودل

په سودي بانکونو کي دپیسو ښودل دري حالته لري:

لومړي: امانت: امانت یا (ودیعه) عبارت ده له ترون (عقد) دطلب دامن څخه پدي معنی چې هغه بل کس به ئي ورته ساتي، خو ګټه به ورڅخه نه اخلي یعني استعمال ئي صحیح ندی، او نه ددغه امانت ملکیت ساتونکي ته انتقال مومي، نه ئي هغه ضامن دی مګر هغه مهال ئي ضامن بلل کیږي چې په ساتنه کي تقصیر او تیري کړي وي.

دویم: اجاره: او اجاره عبارت دي لدینه چې ترون (عقد) به په منافع باندي کیږي او عین به پاتي کیږي، چې همدغه عین به دمستاجر سره امانت وي، هغه ئي دهلاکت ضامن ندي مګر هغه مهال چې په ساتنه کي تقصیر او یا تیري وکړي.

دریم: قرض: قرض هغه ترون (عقد) دی چې ملکیت هغه بل لوري (قرض اخستونکي) ته انتقالوي، هغه کولای شي قرض شوي شي هلاك کړي او بیا دهغه مثل خاوند ته وسپاري، دارنګه قرضدار قرض اخستل شوي شي ضامن دي که هلاك شي او یا ورك شي.

نو اوس که امانت (ودیعه) ته وګورونو په بانك کي دپیسو ښودل امانت ندي لکه مخکي چې هم بیان تیر شو دا ځکه چې:

الف: بانك ددغه پیسو څخه ګټه اخلي او هغه په کار اچوي.

ب: بانك په ټولو حالاتو کي ددي ښودل شویو پیسو ضامن دی.

دارنګه په بانك دپیسو ښودل اجاره هم نده ځکه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: داجاري له شرطونو څخه داده چي اجاره شوي شي به باقي پاتې کيږي، او له پيسو څخه تر هغه پوري ګټه نه اخستله کيږي تر څو يي پکار وا نه چوي او همدا پيسي هلاکي نشي.

ب: بانك ئي په ټولو حالاتو کي ضامن دی.

ددي څخه څرګنده شوه چي په بانك کي پيسي ښودل لکه مخکي چي هم تيرشول قرض دي، ځکه بانك دا پيسي پکار اچوي او هغه مصرفوي، څښتن ته ئي دهغو په شان نوري سپاري او كه هلاكي يا وركي شي نو بانك ضامن دی.

که څوك ووائي چي دقرض (عقد) د ارفاق عقد دی او څوك چي له بانك سره معامله کوي نو دساتلو معامله کوي نه داحسان او رفاقت، پدي معنی چي ددوي مقصد دادي چي پيسي ئي وساتلي شي نه دا معنی چي له بانك سره نيکي او احسان کوي.

ددي په ځواب کي به بيا هغه حديث ته اشاره وکړو چي مخکي تير شو او هغه د زبير حديث دی بخاري په کتاب (فرض الخمس) "باب برکه الغازي في ماله حيا وميتا مع النبي صلى الله عليه وسلم وولاه الامر" کي دزبير حديث لاندي راوړي کله چي هغه شهيد شو او خپلو زامنو ته ئي وصيت وکړ چي دده قرضونه خلاص کړي وائي: دده قرض دا وه چي کله به يو سړي ورته راغي او دده سره به ئي دامانت په شکل مال ښوده نو ده به ورته ويل: " دامانت په شکل ئي نه منم بلکي دقرض په شکل ئي کيږده، ځکه زه پري ويريږم چي ضايع نشي."

ابن حجر عسقلاني وائي: زبير به دچا څخه امانت نه منل مګر هغه وخت چي دده په ذمه به شو، ددي څخه ئي موخه او هدف دا وه چي پر مال به له ضايع کيدو او هلاکت نه ويريده، او بيا به پرده ددي ګومان کيده چي په ساتنه کي تقصير او تيري کړي، نو پدي خاطر به ئي دمال ضمانت پر غاړه اخست او داکړنه به دمال دڅښتن لپاره ټينګه او غوره وه، زياتوي: ابګن بطال ذکر کړيدي: تر څو ددغه مال ګټه خپل څښتن ته ورکړي. "

نو دبانك کړنه هم بايد دا شانته وي بانك بايد له خلکو څخه دامانت په شکل پيسي وانخلي بلکي دقرض په شکل ئي ځيني واخلي، ترڅو پدي وتوانيږي چي په تجارت ئي واچوي او فايده ترينه واخلي، ددي مسالي وضاحت مخکي تير شو بيا ئي اعاده کولو ته اړتيا نشته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په سودي بانکونو کي دپيسو دښودلو لاملونه:

په بانك کي دپيسو دښودلو تر شاه دوه لاملونه موجود دي:

لومړي: هغه کس چي غواړي له خپل مال څخه ګټه ترلاسه کړي او دغه ګټه دسود دلاري لاسته راوړي، ځکه دا اسانه او هم دسرمائي ضمانت پکښي خوندي دی، پدي کي شك نشته چي دا ناروا او حرام دی، او څښتن ئي دالله له لوري لعنتي کړي شويدي.

دويم: هغه کس چي غواړي خپل مال خوندي وساتي دا دوه حالته لري: چي يا به په هيواد کي اسلامي بانك موجود وي او يا به نوي.

کچيري په هيواد کي اسلامي بانك وجود ولري نو پدي صورت کي روا نده چي يوڅوك خپل مال په سودي بانك کي کيږدي، ځکه له يوي خوا ديته څه اړتيا او ضرورت نشته، او له بلي خوا داسي بانك موجود دي چي پرته دسود څخه پکښي خپل مال ښودلاي شي.

ددي مسالي حکم په اسلامي شريعت کي معلوم او ثابت دي، چي ازهر دعلماو هم په همدي باره کي دغسي فتوا ورکړيده هغوي پخپله فتوا کي ويلي دي: که يو مسلمان په اجنبي بانك کي خپله شتمني پداسي حالت کي ږدي چي په هيواد کي اسلامي بانك موجود وي دا کار ناروا او حرام دی.

دارنګه درابطه العالم الاسلامي مجمع الفقه هم پدي اړوند ورته فتوا ورکړيده چي په هغي کي راغلي: په هر مسلمان دا حرام دي چي داسلامي بانك سره ئي تعامل اسانه وي او دننه په هيواد کي اسلامي بانك موجود وي خو ددي سربيره دي خپله شتمني په سودي بانك کي ږدي، ځکه پدغسي حالت کي دي هيڅ ضرورت ديته نلري چي دسودي بانك سره تعامل وکړي، پده لازمه ده چي له سودي بانك څخه خپله شتمني سمدستي وباسي او په اسلامي بانك کي واچوي دحرامو پر ځاي په حلالو بسنه وکړي.

دويم: کچيري په هيواد کي اسلامي بانك نوي موجود پدي صورت کي مساله تفصيل ته اړنيا لري:

پداسي حال کي چي په هيواد کي اسلامي بانك نوي او په هيواد کي امنيت هم ډاډ وړ نوي انسان پخپله شتمني ويريږي او نشي کولاي په کور کي خپله شتمني وساتي نو پدغسي شرايطو کي په سودي بانك کي دپيسو ښودل جواز لري خو په څو شرطونو سره چي هغه په لاندي ډول دي:

الف: پدي اند به وي چي کچيري ددي څخه بل غوره بديل پيداکړي نوخپله شتمني به دغه بانك څخه وباسي، ځکه يو شي چي دضرورت پر بنسټ روا شي کله چي ضرورت ختم شي حکم خپل حالت ته راګرځي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: په سودي بانك كي چي كله پيسي ږدي نو دګټي اخستلو تړون به نكوي بلكي له بانك سره به پدي اتفاق كوي چي دی به يوازي خپله سرمايه غواړي دګټي هيڅ غوښتنه به نكوي، ځكه اصل دادی چي په سودي بانكونو كي دپيسو ښودل ناروا دي صرف دضرورت له مخي جواز لري، چي مال ئي له غلا او هلاكت څخه خوندي وساتل شي، او ضرورت به دخپلي اندازي په قدر وي.

## د سودي بانك دګټي حكم

كچيري مونږ دضرورت له مخي په سودي بانك كي خپله شتمني كيږدو خو بانك زمونږ دشتمني حساب وكړي او په پاي كي مونږ ته ګټه راكوي نو ايا پدي ګټي به مونږ څه كوو اخستل ئي روا دي يا ندي؟

پدي مساله كي دعلماو بيلابيل نظريات دي چي په لنډ ډول به په لاندي توګه ورته اشاره وكړو:

لومړي: يو شمير علماء پدي اند دي چي دغه ګټه روا ده چي وائي خلو او داسي استفاده ورنه وكړو لكه څرنګه چي له اصل مال څخه كوو.

دغه نظر غلط او فساد ئي په بشپړه توګه ښكاره او څرګند دی ځكه كه داسي شي نو ددي معنی به دا وي چي سود خوړل جواز لري او هغه څه مو حلال وګڼل چي الله او دهغه رسول حرام كړيدي او ټول امت ئي په حرمت اتفاق كړيدي، الله تعالی فرمائي: " وذروا ما بقي من الربا إن كنتم مؤمنين. "

ژباړه: اي مومنانو له الله نه وويريږي او ستاسي چي كوم سود پر خلكو پاتي هغه پريږدي كه په رښتيا سره مو ايمان راوړي وي.

او فرمائي: " وإن تبتم فلكم رءوس ډموالكم لا تظلمون او تظلمون "

ژباړه: كه اوس هم توبه وباسي او سود پريږدي نو تاسي دخپلي پانګي اخستلو حقدار ياست مه تاسي تيري كوي او نه به پرتاسي تيری وشي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " چاچي زيادت وكړ او دزيادت غوښتنه وكړه نو سود ئي وخوړ، وروكونكي او اخستونكي يو شانته دي. "

دارنګه ئي فرمايلي دي: " الله پاك لعنت وائي په سود خوړونكي سود وركوونكي دسود په ليكونكي او دسود په شاهدانو. "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابن رجب حنبلي دهغه چا په اړوند چي دحرام څخه خيرات کوي په هکله وائي: خائن، غاصب او ددوي په څير نور کسان چي خيرات کوي ددوي خيرات نه قبليږي او په احاديثو کي چي دنه قبليدو خبر راغلي له هغو نه همدغه کسان مقصد دي، دا پدي معنی چي هيڅ اجر نه ورکول کيږي، بلکي لا ګناهګاران دي ځکه چي په پردي مال کي پرته دهغه داجازي نه تصرف کوي.

له سعيد بن مسيب څخه يو سړي پوښتنه وکړه وئي ويل: " ما يو شي پيدا کړ، ايا هغه مخکي لدينه چي اعلان ئي کړم خيرات کړم؟ هغه وويل: پدي سره نه تاته ثواب شته او نه ئي څښتن ته. "

ددي څخه مقصد دادی چي په ناروا او حرام مال سره چي سود هم پکښي راځي نفع اخستل جواز نلري، آن که خيرات ئي هم کړي.

دويم قول: دوي پدي اند دي چي له بانك څخه دي نه اخلي او بانك ته دي پريږدي چي څه پري کوي هغه دي پري وکړي.

ددي نظر ګڼ شمير معاصر علماء مخالفت کوي لکه شيخ مصطفی زرقاء، شيخ سنبهلي او هند زياتره علماء

دوي وائي: په صحيح او حقيقي توګه ثابته شوي چي هغه پيسي چي څښتن ئي نه اخلي او بانك ته ئي پريږدي بانك هيڅکله هغه خپلو څښتنانو ته نه سپاري، بلکي دخپلي خوښي مطابق ئي مصرفوي، او دغه مصارف يا جهتونه که دبانك له نظره صحيح او سالم وي خو داسلامي شريعت له نظره امکان لري داسي مضر وي چي داسلامي ټولني دنړولو لامل وګرځي، چي ددي بيلګي خورا زياتي دي دساري په توګه په هند کي دبرتانوي استعمار پر مهال دمسلمانانو دهمدغي سودي ګټي پيسي دکليساو په جوړونه، او دتبشيري موسساتو په تقويه کولو مصرفيدي، تردي چي کليسا دمسجد دسود په روپو جوړه شوه، کله چي مسلمانانو دغه دردونکي حالت ته وکتل نو په اړوند يي فتوا وي صادري کړي.

دديوبند پخواني مفتي شيخ عزيز الرحمن رحمه الله نيمه پيړۍ وړاندي ددغه سوال په ځواب کي وويل: هغه ګټي چي خلك ئي دبانکونو څخه دهغو پيسو په عوض کي اخلي چي دامانت په توګه ئي هلته ايښي دي دا هغه سود دی چي الله پاك حرام کړيدی، هيڅا ته نده روا چي دا پيسي واخلي، او که څوك ئي واخلي نو بيوزله او فقيرانو ته دي ورکړي.

دپاکستان مشهور مفتي شيخ محمد شفيع ددي په موضوع په هکله داسي فتوا ورکړيده: کچا په بانکونو کي پيسي ايښي وي نو دهغو ګټه (سود) دي بانکونو ته نه پريږدي ځکه هغوي ئي دمسيحيت او تبشير په خپرولو مصرفوي، بلکي هغه ګټه دي واخلي او په بيوزله او فقيرانو دي وويشي، مګر پخپل ځان ئي مصرفول حرام دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني علماو پدي نظرئي نيوکي کړيدي او ويلي دي: داچي نوموړي بانکونه دغه ګټې په تبشيري او تنصيري لارو کي لګوي، دا فرموله په ټولو بانکونو نشي پلي کيداي، او که دا فرموله ټولو بانکونو ته راجع هم شي نو دا په ګومان ولاړه ده، ځکه مونږ ته په يقين سره څرګنده شوي چي يو شمير بانکونه ئي په همدي چارو نه لګوي.

دويم: که ديته تسليم شو چي بانکونه ئي په تبشيري او تنصيري مراکزو لګوي نو ايا دا ددي معنی ده چي بانك داسلام سره جګړه کوي، او کچيري داسلام سره په جګړه کي وي بيا په دغسي بانکونه ښودل دهغوي تقويه او مرسته ده، او ددي مثال داسي دي لکه يو څوك چي دفتني پر مهال سلاح خرڅوي، آن چي لدينه هم بده ګناه ده، ځکه دا داسي چاته قرض ورکول دي چي هغه مسلمانان پري وژني چي دا په قطعي توګه حرام دی.

دريم: کچيري علت او لامل دبانك تقويه وي نو بانك خو دسرمائي په ښودلو لدينه لاښه تقويه کيږي، کچيري پدغسي بانکونو کي دمال ښودل دضرورت له مخي وي چي له ورکيدو او هلاکيدو څخه ئي ويريږي نو ايا دسود اخستلو علت اولامل څه شي دی؟

ددي څخه داسي څرګنده شوه چي په بانك کي ګټه (سود) پريښودل يا اخستل دموضوع څه ګوښي ده، ځکه که مونږ دا ګټه واخلو او يائي بانك ته پريږدوي خو دسود دتړون (عقد) څخه نه خلاصيږو او اسلامي شريعت له تړون (عقد) دسود څخه منع کړيده، چي دا دسود خوړونکي، ورکوونکي، ليکونکي او شاهدانو ټولو ته شامل دی، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: " الله پاك لعنت ويلي په خوړونکي دسود وروکوونکي دسود ليکوونکي دسود او شاهدانو دسود باندي. "

نو داسي بريښي چي منع او حرمت په تړون (عقد) پوري تړاو لري، په ګټه کي دتصرف مسله ګوښي او جلا ده.

دريم قول: ددي نظر څښتنان وائي چي دبانك څخه دي ګټه واخستله شي او بيا دي هغه هلاك او له منځه يوسي ځکه چي حرامه ده.

ابن رجب وائي: فضيل بن عياض پدي اند و چي که دچا سره حرام مال وي او څښتنان ئي ورته معلوم نوي نو هغه دي ضايع کړي او په سمندر کي واچوي.

ډاکټر يوسف قرضاوي پدي نيوکه کړي او ويلي دي: دغه عمل داسلامي شريعت دقواعدو مخالف دی ځکه په شريعت کي دضايع کولو دمال څخه منع راغلي، او پدي ئي ټينګار کړي چي له مال څخه ګټه واخستله شي.

شيخ مصطفی زرقاء ويلي دي: دګټې لاسته راوړني په مال کي څه ګناه نشته چي مونږ ئي دضايع کولو امر کوو، او ضايع کول ئي دالله پاك دنعمت څخه سرغړاوی دی، چي يو احمقانه کار دي، اسلامي شريعت ټول له حکمتونو ډك دی ځکه چي وضع کوونکي ئي حکيم دی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي نظر غلطي له ورايه ښكاره ده چي ځكه فاعل ئي غواړي چي ځان له سود څخه وژغوري پداسي حال كي چي په بانك كي دخپلي شتمني په ښودلو سره په سود كي واقع شو، آن چي صرف له بانك سره په لاسليك كي سود كي ورگډ شو، پدي اساس نووي دحرام په اړوند وائي كه څوك غواړي ددغسي ناروا مال څخه ځان خلاص كړي او الله ته توبه وباسي نو دا بيا صحيح نده چي هغه مال ضايع كړي او په سمندر كي واچوي بلكي دمسلمانانو په مصالحو كي دي ولگوي.

څلورم قول: دغه گټه (سود) دي دبانك څخه واخلي او پر فقيرانو او مسكينانو دي وويشي او يا دي هم دمسلمانانو په مصالحو كي ولگوي.

ډاكټر يوسف قرضاوي وائي: حرام په ملكيت كي نه راځي له همدي كبله پكارده چي خيرات يي كړي لكه څرنگه چي محققين علماء وائي، دارنگه زياتوي: څرنگه چي دى خاوند ندي نو اخستل ئي ورته روا دي او په بيوزله او مسكينانو به ئي تقسيم كړي او يا به ئي هم دمسلمانانو په مصالحو كي ولگوي، دپيسو گټه (سود) نه بانك ملكيت دى او نه دپيسو دڅښتن، بلكي دا دعام مصلحت ملكيت دى، دا حكم په ټولو حرامو پلي كيږي، ددغسي مال زكات نشته ځكه زكات حرام مال نشي پاكولاي، بلكي پدغسي مال كي پاكي پدي راځي چي خيرات ئي كړي.

شيخ مصطفى زرقاء وائي: كه څوك خپله شتمني په سودي بانك كي كيږدي نو هغه فايده (سود) چي بانك ئي وركوي روا نده چي دخپل ځان په مصلحت كي ولگوي، او نه دي بانك ته پريږدي نو ايا څه به پري كوي؟ ددي په ځواب كي وائي: دغه فايده يا گټه دي دمال څښتن واخلي پخپلو منافعو كي دي نه لگوي بلكي بيوزله او فقيرانو ته دي وركړي.

غزالي وائي: كه چا سره حرام مال وي او غواړي توبه وباسي كچيري ددغه حرام مال خاوند معلوم وي نو هغه ته او يا دهغه وكيل ته دي وسپاري، كه هغه مړ وي نو ورثه و ته دي وركړي، اوكه خاوند ئي معلوم نوي نو بيا دي دمسلمانانو په مصالحو كي ولگوي لكه پل، مسجد، جهاد او داسي نور او كه دا هم امكان ونلري نو فقيرانو ته دي وركړي.

ابن القيم وائي: كچيري دچا سره حرام مال وي او هغه خاوند معلوم وي نو خپل خاوند ته دي وسپاري، كه هغه مړ وي ورثه و ته دي وسپاري او كه خاوند ئي معلوم نوي نو بيا دي خيرات كړي مسكينانو او فقيرانو ته دي وركړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمعاصرو او پخوانيو علماو دفتوا ترمنځ توفيق:

معاصر علماء پدي اند دي چي دبانکونو څخه دي دغه ګټې واخستلي شي او پر بيوزله او فقيرانو دي وويشلي او يا دي هم په مصالحو دمسلمانانو کي ولګوي دوي پدي مسله کي دپخوانيو علماو پر نظرياتو تکيه کړيده، که څه هم ددوي دنظرياتو او دهغوي دنظرياتو ترمنځ يو لړ اختلاف موجود دی.

دوي خپله فتوا په مطلق ډول ورکړيده او ټولو هغو ته شامله ده چي په لاس کي حرام مال وي که توبه ئي ايستلي وي يا نوي، ددي سربيره دتل لپاره دسود اخستني لار پرانستلي ده، چي وروسته به ئي په هغه څه کي مصرفوي چي مخکي بيان تيرشو.

مګر پخوانيو علماو په مقيد شکل فتوا ورکړيده، هغوي څرګنده کړيده چي لومړي به توبه وباسي له حرام مال څخه به ځان خلاصوي، او پدي اند به وي چي بيا به دا کار نکوي وروسته له هغه نه به بيا دغه دسود پيسي بيوزله او فقيرانو ته ورکوي.

داسي ښکاري چي دپخوانيو علماو نظر دمعاصرو په پرتله غوره دي، ځکه حرام مال هغه مهال فقيرانو او يا هم دمسلمانانو په مصالحو کي لګول کيږي چي کله ئي څښتن له حرامو څخه توبه ايستلي وي، او غواړي نور دحرام مال څخه ځان پاك او خلاص کړي پدي صورت کي به ددي فيصله کيږي چي خپل دغه حرام مال له منځه يوسي.

داچي دغه لار داسي وګرځوله شي چي تل دسود پيسي اخلي او بيائي په هغو لارو چارو کي لګوي چي مخکي ذکر شوه دا دپخوانيو علماو دنظر سره جوړ ندي.

دشريعت ګڼ شمير دلايل هم په همدي تاکيد کوي الله تعالی فرمائي: " يا ډيها الذين آمنوا اتقوا الله وذروا ما بقي من الربا ڕن کنتم مړمنين، فڕن لم تفعلوا فڼذنوا بحرب من الله ورسوله وڕن تبتم فلکم رءوس ډموالکم لا تظلمون ولاتظلمون "

ژباړه: اي مومنانو له خدايه ووېرېږي او ستاسي چي کوم سود پرخلکو پاتي دی، هغه ورپرېږدي، که په رښتيا سره مو ايمان راوړي وي، خوکه تاسي داسي ونکړل، نو خبر اوسي چي دالله او دهغه درسول له خوا ستاسي پر خلاف دجګړي اعلان دی، که اوس هم توبه وباسي او سود پرېږدي نو تاسي دخپلي پانګي اخيستلو حقدار ياست، مه تاسي تيری کوي او نه به پرتاسي تيری وشي.

پدي اساس وروسته له توبه ايستلو څخه دمال لاسته راوړنه صحيح نده، ځکه الله تعالی وويل: "وڕن تبتم فلکم ورءوس ډموالکم"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرطبي وائي: آيت پدي تاکید دي چي وروسته دتوبي ایستلو څخه به ئي نه اخلي، ددي فرمولي پر اساس دسود دحراموالي څخه وروسته که دچار سره حرام مال وي او که هغه دسود نه وي یا دبلي لاري نه راغلي وي نو پکار ده چي لاندي چاري ترسره کړي :

الف: دغه حرام مال به بیرته هغه چاته وسپاري چي له چانه ئي اخستي وي، کچیري هغه نوي یا وفات شوي وي نو بیا به ئي دهغه ورثه و ته سپاري، کچیري دهغه ورثه نوي نو هغه چاته به ئي سپاري چي دچا پر هغه قرض وي، او که دا هم ورته معلوم نوي نو بیا به ئي مسکینانو ته ورکوي او یا به ئي هم دمسلمانانو په مصالحو کي مصرفوي، البته ددي څخه وروسته به په هیڅ توګه بیا دسود کړنه او عمل نه ترسره کوي لکه څرنګه چي څوك دچال مال غصب کړي او بیا توبه وباسي نو هغه غصب کړي شوي مال به ئي څښتن ته سپاري او بیابه هیڅکه دغسي کار نکوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په حرام مال سره خیرات یا صدقه نه کیږي

دسود یا بل ناروا کار څخه توبه ایستونکي باید پدي وپوهیږي چي کچیري ددغه مال خپل څښتن معلوم نشي، او نه ئي ورثه وپیژندلي شي، نو دخیرات یا صدقي ورکولو په صورت کي به ددي ارزو نلري چي پدي سره به ثواب ترلاسه کړي، بلکي دغه کړنه یوازي ددي دپاره ده چي له حرامو څخه ځان خلاص کړي، او هم مال لدینه وژغوري چي پرته دکوم منفعت څخه ئي ضایع کړي، ځکه په صیح مسلم کي له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وائي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "الله پاك پرته دطهارت نه لمونځ نه قبلوي او نه دخیانت له مال څخه خیرات قبلوي . "

او په صحیحینو کي له ابوهریره څخه روایت دی وائي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: " که څوك په پاك مال سره خیرات ورکړي - او الله پاك هم له پاك نه بغیر دبل مال خیرات نه قبلوي- نو دغه کس به الله پاك پخپل لاس سره ونیسي. "

ددي څخه ښرګنده شوه چي الله پاك یوازي دپاك او حلال مال خیرات قبلوي کچیري مال حرام دا خیرات نه کیږي.

## د اسلام پر بنسټ ولاړه لار

پدي کي شك نشته چي معاصر پرمختګ ګڼ شمیر مسایل را ولاړ کړي دي او دژوند په هره برخه کي نوي پرمختګونه شویدي چي ددي په سر کي اقتصادي مسایل دي، نن دنړۍ په ګوټ ګوټ کي په سود ولاړ موسسات او بانکونه وجود لري آن چي یو سړي دداسي بانك په لټه کي شي چي هلته سود نوي نو په مشکل سره به ئي مومي، مګر ددي سره سره اسلام دژوند ټول کړه وړه داسي حل کړي چي هیڅ مشکل پکښي ندی پاتي او په هره زمانه کي چي کوم مشکل راځي نو اسلام دهغه لپاره ښه حل لري، اوس پوښتنه داده چي ددغو سودي بانکونو بل غوره بدیل څه شي دی؟

که واقعیت ته وګورو نو دسودي بانکونو غوره بدیل په معاصر وخت کي اسلامي داسي بانکونه دي چي کړنه ئي پداسي مضاربت ولاړه وي چي اسلامي احکامو سره ټکرنخوري، او ګټه پداسي عادلانه توګه وویشي چي له هرراز ظلم څخه خوندي او پاکه وي ځکه ګټه د سرمائي په اندازه ویشله کیږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "ګټه په ضمانت سره ده" ، او شرعي قاعده داسي ده " ګټه په تاوان ده . "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلامي بانکونو ځانګړتیاوي :

الف: اسلامي بانکونه به داسلامي مضاربوي شرکت پر بنسټ ولاړ وي.

ب: اسلامي بانکونه دټولو مسلمانانو لپاره ددي لار پرانزي چي خپلي سرمائي په مشروع طريقه وکاروي او دغه کړنه ددي لامل ګرځي چي په شتمنيو کي زيادت پداسي طريقه راشي چي هغه روا وي او له بلي خوا دخلکو شتمني له خزانه کولو څخه ژغوري.

ج: داسلامي بانکونو په جوړونه سره اسلامي اقتصاد زيات پرمختګ کوي.

د: داسلامي بانکونو جوړل دټولني مالونه له حرامو څخه ژغوري او پداسي لارو چارو ئي استعمالوي چي هغه مشروع وي.

هـ: داسلامي بانکونه جوړونه دکفارو داقتصاد دکمزورتيا لامل ګرځي.

و: داسلامي بانکونو جوړونه ددي لامل ګرځي چي ګټي به په عادلانه توګه دخلکو ترمنځ ويشلي کيږي چي پر هيچا به ظلم او تيرى نه کيږي.

ز: داسلامي بانکونو جوړونه به ددي ښکارندوي چي مسلمانان خپل دين ته ژمن دي او سختو او ستونځمنو حالاتو کي هم دوي هغه لار تعقيبوي چي اسلام ورته دهغي اجازه کوي.

اوس که واقعيت ته وګورو نو په شلمه پيړۍ کي يو شمير مسلمانانو ددي ستونزي درك وکړ او هماغه وو چي داسلامي بانکونو په پرانستلو ئي پيل وکړ، تر څو پدي سره وکولاي شي له يوي خوا مسلمانان له ناوړه عمل سود څخه وژغوري او بلي خوا داسلامي نړۍ اقتصاد ته ښي برياوي ورپه برخه کړي، چي که مبالغه ونکړو نو دغو بانکونو ښي پايلي لرلي دي او ګڼ شمير خلك ئي خپل ځان ته راجذب کړيدي، تراوسه پوري داسلامي نړۍ په بيلابيلو هيوادونو کي دغه بانکونه پرانستل شوي دي دبيلګي په توګه د دبي اسلامي بانك، داردن اسلامي بانك، دقاهري نړيوال اسلامي بانك، دسودان اسلامي تضامني بانك، دبنګلديش اسلامي بانك، او داسي نور چي په لنډ ډول به ديو يا دوو تګلارو او کارونو ته اشاره وکړو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دبي اسلامي بانك

دغه بانك په کال 10/ 3/ 1975م کي د اماراتو په هیواد د دبي په ښارګوټي کي پرانستل شو، نوموړي بانك دخلکو مالونه پداسي توګه کاروي چي دسود څخه په بشپړه توګه خوندي وي او دي مهاله ئي ګڼ شمیر کارونه ترسره کړیدي چي ځیني په لاندي ډول دي :

الف: دسوداګري چاري په داسي شکل مخ پر وړاندي بیول چي داسلامي شریعت داحکامو سره موافقي او برابري وي.

ب: د راکړي او ورکړي (تبادلي) کړني پداسي توګه چي خپله مزدوري هم ځیني ستنه کړي او داسلامي شریعت داحکامو سره ټکر ونخوري.

ج: دبیلابیلو پروژو جوړول، د صادراتي او وارداتي توکو چاري مخ ته بیول، دارنګه دټیکداري په کارونو کي برخه اخستل.

نوموړي بانك تر اوس مهال زیات کارونه کړي لکه دعقاراتو په برخه کي ددبی په ښارګوټي کي د بدر په نوم داوسیدني ښارګوټي جوړونه، چي دغه ښارګوټي دوژوند له ټولو وسایلو څخه برخمن دی، دارنګه بانك د مرابحي بیعي کړنه د وارداتو او صادراتو له لاري ترسره کوي، چي پدي برخه موټرو، کورونو او دکور دسامانونو دنده پر مخ بیائي، دا شان نور ډیر داسي کارونه دي چي دغه او نور اسلامي بانکونه ئي اجراء او تراوسه پوري ښې لاسته راوړني لرلي دي.

داسلامي بانکونو کړنلاره:

څرنګه چي داسلامي بانکونو تګلاره د سودي بانکونو څخه توپیر لري نو ددوي کړني په لاندي توګه ترسره کیږي:

الف: د امانتونو په عوض کي خلکو ته ګټې نه ورکوي.

ب: خلکو ته دګټو په مقابل کي قرضونه نه ورکوي.

ج: د کمبیالا په چکونو چي کله دخپلي مودي څخه وروسته کړي کومه ګټه نه اخلي.

داسلامي بانکونو خدمات:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



1-دجاري حسابونو پرانستل، چي پدي کار کي دهغه کس لاسليك اخلي چي اکاونت پرانزي، او هغه ته بانکي کتابچه ورکوي ترڅو دهغي وسيله خپلي پيسي له بانك څخه وباسي، مگر دامانتي پيسو په عوض کي بانك هيڅ گټه نه ورکوي

2-دگټي نه پرته دحساب (اکاونت) پرانستل، چي پدي ترڅ کي پيسي ايښودونکي ته دبانك کتابچه ورکوي او ټول هغه امانت چي په بانك کي ږدي هغه پکښي ليکي، او پرته دگټي څخه ئي بيرته وغوښتني پر وخت ورته سپاري.

3-د محدودي نيټي لپاره داستثماري دفترونو پرانستل، امانتونه او دگټه لرونکي پيسي دبانك په فايده کي زيارت رول لوبوي، دارنگه ددي احتمال هم لري چي خساري پر مهال به تاوان پر غاړه اخلي، او کچيري دغه شتمني پخوا له وخت څخه له بانك څخه وايستلي شي نو دگټي مستحق نه بلل کيږي، ځکه هغه شرائط ئي پوره نکړه چي دتړون (عقد) پر مهال ورسره شوي وو .

4-داستثمار حساب

دغه حساب به په دوه ډوله وي :

لومړي: دپيسو (ودائع) ښودل او داستثمار په اوړند بانك ته کامل اختيار ورکول، پدي معنى چي دپيسو ښودونکي بانك ته ددي اختيار ورکوي چي پيسي دخپلي خوښي مطابق په هره پروژه کي چي کاروي کار دي کړي.

دويم: دپيسو جمع کول مگر ددي سره سره داستثمار لار تعينول، پدي صورت کي به پيسي ښودونکي دمال داستثمار لپاره لار ټاکي.

البته په دواړو حالاتو کي بانك دپيسي ښودونکي مضارب شريك بلل کيږي، پدي معنى چي دټولو هغو کسانو دکار او پيسو داستثمار وکيل دي چي خپلي پيسي ئي په بانك کي ښي وي، دبانك دمالي کال په پاي کي به پيسي ښودونکي خپله گټه واخلي، او کچيري پروژه محدود وخت ولري نو دپروژي دسرته رسولو وروسته به خپله گټه ترلاسه کړي.

5-داجنبي پيسو پيريدنه او پلورنه، البته دغه کړنه (صرف) به داسلامي شريعت مطابق دهماغي ورځي په قيمت او مخکي له جلاوالي څخه به ئي تسليموي.

6-دهيواد په دننه او بهر ته دپيسو ليږدونه، پدي ليږدونه کي به بانك يوازي هغه پيسي ستنوي چي په ليږدونه مصرف شوي وي.

7-په مقابل د مزدوري کي دمالي اوراقو ساتنه.

8-دخزانو (امانتونو) اجاره کول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-9دټیکداري په کارونو کي شرکت کول، البته دغه شرکت به دهغه مضاربت په اساس وي چي داسلامي شریعت داساساتو سره برابر وي، پدي صورت کي به کارکوونکي په کار او یاهم په کار او یوه برخه دمال سره شريك وي او بانك به یوازي په مال سره شريك وي، ګټه او تاوان به داتفاق مطابق تقسیموي.

-10داعتماد پاڼي ورکول: کچیري هغه کس چي خپلي شتمني دبانك سره ینبي وي وغواړي دبهر څخه یو شمیر تجارتي توکي وارد کړي، پدي صورت کي له بانك څخه داعتماد پاڼه اخلي چي دهغي قیمت به دده له حساب څخه ستنه کړي او یا به هم بانك پدي کړنه کي دده سره شريك شي، بانك به پخپل وار لازم اجراءات ترسره کوي لکه دتوکو دقیمت سپارل صادرونکي جهت ته، دارنګه دهغو دکرائي مصارف او داسي نور.

په بانك کي دپیسي ښودلو شرایط :

الف: کله چي په بانك کي دامانت په شکل پیسي ږدي، نو څښتن ته ئي روا ده چي هر وخت غواړي خپلي پیسي وباسي نو ایستلاي شي، بانك ته روا نده چي دغه پیسي استعمال کړي او یائي پکار واچوي، او که ورکي شي نو بانك ئي ضامن ندي پدي شرط چي په ساتنه کي تقصیر نوي کړي، البته دغه حکم په هغو خزانو او صندوقونو هم پلي کیږي چي بانك ئي خپلو همکارانو په اجاره ورکوي.

ب: کچیري دقرض په شکل کیږدي، بیا ئي څښتن ته روا نده چي له خپلي معیني نیټي څخه مخکي وباسي، پدي صورت کي بانك ته روا ده چي پکار ئي واچوي، دارنګه د ورکي په حالت کي بانك ضامن دی، او دا پر هغو حساباتوهم پلي کیږي چي تر معیني نیټي پوري حسابونه منجمد شوي وي، او په جاري حسابونو کي څښتنان کولاي چي څه وخت وغواړي هغه وخت ئي ایستلاي شي، او پدي صورت کي به ئي شرعي کیفیت پدي شکل وي: داسي قرض دي چي کله ئي وغواړي نو همهغه وخت به ورته ورکول کیږي.

ج: که دامانت په شکل ئي ښي وي نو زیادت به نه اخلي او اخستل ئي ناروا دي، او که دقرض په شکل ئي ښي وي، نو یا به ئي زیادت شرط کړي وي یانوي که شرط کړي ئي وي دا حرام دي، او که نه ئي وي شرط کړي، او نه ئي قرض دزیادت وسیله ګرځولي وي، نو بیا روا ده ، مګر که مونږ خپل عصر ته وګورو او بیا ددي سره سره دمسلمانانو کمزوري ایمان، او لږ تقوا ته نظروکړو نو دا به بهتره وي چي اسلامي بانکونه دا کار ونکړي، پدي معنی چي دقرض په عوض کي چاته زیادت ورنکړي داځکه چي :

لومړي: بانك قرض ددي پخاطر ندي اخستي چي بانك ورته محتاج دی، بلکي خپله قرض ورکوونکي دیته محتاج دی چي خپله شتمني په بانك کي وساتي، او کچیري دامانت په شکل کیږدي نو پدي صورت کي قرض ورکوونکي له ورکیدو نه پري ویریږي، ځکه دامانت په شکل ئي بانك ضامن ندي، دارنګه دامانت په شکل له بانك سره مالونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره زياتيږي چي بيا ئي بيلوالي خورا ستونځمن دی، پرته لدينه چي په ځانګړيو صندوقونو کي کيږدي او په عوض کي مزدوري اخلي .

دويم: که بانك دغه كار وكړي نو دابه ئي يو عادت وګرځي، او دخلکو زړونه به ځانته را واړوي، او په مقابل کي به دخلکو زړونه دهمدي زيادت پوري وتړل شي چي اسلامي شريعت دهغو کارونو اجازه نه ورکوي چي په پاي کي دنارواو لامل ګرځي او ديته په اسلامي فقه کي (سد الزرائع) وائي، چي بنسټ ئي خپله رسول الله صلی الله عليه وسلم يښي.

الف: رسول الله صلی الله عليه وسلم مسلماني ښځي لدينه منع كړي چي دسجدي پر مهال خپل سرونو دنارينه و څخه مخکي اوچت كړي، ترڅو سترګي دنارينه و په فرجونو ونه لګيږي. "

دا د (سد الذريعه) له جملي څخه دی.

ب: رسول الله منع كړي چي يو سړي دبل سره دپلورني او پيرودني پر حالت کي وي نو دريم ته روا نده چي دپلورني يا پيردني غوښتنه وكړي" دا حديث دمخکني په څير دی، ځکه دغه کړنه دمسلمانانو ترمنځ د دښمني او حسد لامل ګرځي.

نو دپورتنۍ قاعدي (سد الذرايع) پر بنسټ بايد ووايو: چي الله پاك يو شي حرام كړي دهغه ټولي لاري چاري ووسايل يي هم حرام ګرځولي دي، ترڅو دحرمت تحقيق صورت ومومي، کچيري لاري چاري او وسائل مشروع واي نو دا به دحرمت سره په ټکر کي و، او خلکو به بيا دحرام خوړولو لپاره همدغه چلونه او حيلي کارولي.

دارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " غټ دګناهونو نه داده چي سړي خپلو والدينو (مور او پلار) ته ښکنځل کوي، صحابه و وويل اي دالله استازيه! څرنګه يو سړي خپلو والدينو ته ښکنځل کوي، هغه مبارك ووېل: دبل چار پلار ته ښکنځل کوي او هغه دده مور اوپلار ته ښکنځل کوي. "

ددي فرمولي پر بنسټ ويلاي شو چي سود ټولي لاري چاري بايد وتړلي شي، او که څوك دسود پورتنۍ لاري پرانزي بيا ډير نيږده ده چي پکښي ور ګډ شي، او کوم چي مضاربت دی نو پکار ده چي په بشپړ ډول داسلامي تعليماتو موافق ترسره شي، ګټه او تاوان د شوي موافقنامي پر اساس توزيع شي، اودغه لاره داسلامي اساساتو سره جوړه او برابره ده. والله اعلم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاتمه

دپورنيو معلوماتو پر بنسټ داسي ښکاري چي دخلکو معاصر ي چاري او کړني دژوند په ټولو برخو پرمخ تللي، چي دغي کړني داسي څه رامنځته کړي چي هغه نوي تاکتيکونو او نوي اجتهاداتو ته اړتيا لري، که معاصر پرمختګ ته وګورو نو هر څه دپخوا څخه بدل شوي،اوس مهال خلکو ژوند په ټولو برخو کي ديو بل سره تړلي دی، ددوي دژوند وسايل يو دبل سره داسي تړل شوي چي دبيلوالي امکان له منځه تللي، او که اقتصادي ډګر ته راشو نو دهيوادونو اړيکي په همدي راڅرخي، آن چي نن په نړۍ کي کومي شخړي رواني دي تر شاه اقتصادي انګيزي دي، امريکا چي نن کومه جګړه پيل کړي بنسټيز لامل ئي اقتصاد دی، ترڅو دنورو زيرمي پخپله ولکه کي راولي په تيره بيا تيل، دارنګه دپيسو معاصر نظام راوستل او بيا دهغه پلي کول هغه څه و چي ترشاه ئي نور اهداف لرل، دسرو او سپينو زرو په ځاي دمعاصرو کاغذي نوټونو رواجول داسي موضوع وه چي استعماري او ځواکمنو هيوادونو پري دوه هدفه ترلاسه کړه، له يوي خوائي هغه هيوادونه چي ددوي دپاليسي څخه ئي مخالفت کول دهغوي ملا ئي په همدي ورماته کړه ځکه ځواکمنو هيوادونو به ئي پر ضد اقتصادي بنديزونه ولګول چي دغه کار به خپله دهيواد پيسي را وغوځولي او بيا به ئي نشواي کولاي دهغوي مقاومت وکړي نو خپله به ورته تسليم وو، او بلي خوا ئي خلك دسود خوړولو ته اړ کړه، ځکه معاصر کاغذي نوټونه يا پيسي کال په کال خپل ارزښت دلاسه ورکوي نو که پيسي همداسي پاتي کيږي په بل کال کي هغه ارزښت نوي کوم چي په سږ کال کي وو، همدي کړني استعمارګرانو خلك ديته ليواله کړه چي خپلي شتمنۍ په سود واچوي تر څو هغه نقصان پري پوره کړي چي پيسي ئي دوخت په تيريدو سره له لاسه ورکوي، سربيره پردي دمعاصري تجارتي بانکونو ګټي يوازي او يوازي استعمارګرانو ته رسيږي ځکه په اسلامي هيوادونو کي داسي ډاډمن بانکونه وجود نلري چي خلك هلته خپلي شتمني پکښي وساتي نو دا سبب شو چي ګڼ شمير مسلمانانو خپلي شتمني داروپا په بانکونو کي کيښودي، تردي چي يوي سروي وښوده که دخليج دشتمنو هغه شتمني چي يوازي دسويس په بانکونو کي دوي ينبي دهغي زکات پر بيوزله او فقيرانو وويشل شي نو په اسلامي نړۍ کي به بيوزلي او فقر ختم کړي.

البته ددي سره سره يو شمير مسلمانان ديته متوجه شول او داسلامي بانکونو په پرانستلو ئي پيل وکړ چي تر اوسه پوري په يو شمير هيوادونو کي جوړ شوي هم دي او ترډيره بريده ئي ښي پايلي لرلي، له يواي خوائي خلك له ناروا (سود) څخه وژغورل او له بلي خوا ئي اسلامي هيوادونو اقتصاد ته وده ورکړه، آن چي اوس کفري هيوادونو دمسلمانانو دشتمنيو دجذبولو لپاره هڅي اوهاندي شروع کړي چي داسي بانکونه جوړ کړي چي داسلامي احکامو سره ټکر ونخوري او ددي دپاره ئي اسلامي علماء ځانته غوښتي او له هغوي څخه ددغسي پلانونو مشوري اخلي چي تراوسه پوري په انګلستان او چين کي دغي رنګي بانکونه جوړ شوي او نور هيوادونه ئي هم په لټه کي دي، خو متاسفانه چي ګڼ شمير اسلامي هيوادونه لا په هماغه زاړه خوب ويده دي، پدي اساس اسلامي هيوادونو ته پکار ده چي ددغسي بانکونو جوړولو ته زياته پاملرنه وکړي او هر ښارګوټي کي ځانګي پرانزي ترڅو خلك وکولاي شي په اسانۍ سره خپلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمني پدغسي بانکونو کي کيږدي، ما خپل دغه بحث او څيړنه په همدي موضوع ليکلي ترڅو زمونږ هيواد هم وکولاي شي دغي کړني ته بدي را ونغاړي او زمونږ په هيواد کي هم په سود نه ولاړ او داسلامي احکامو مطابق بانکونه پرانزي

په پاي کي له الله څخه سوال کوم چي زما عجز بنده دغه عمل پخپل دربار کي قبول کړي.

وصلی الله تعالی علی خير خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعين .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمن ليكونه

-1وګوره تبيين الحقائق 5/ 52، الهدايه 3/ 162، الډم تاليف امام شافعي 4/ 5، نهايه المحتاج تاليف رملي 4/ 160 .

حديث ابن ماجه روايت کړي وګوره نيل الاوطار د شوکاني 5/ 301 .

-1تحفه الفقهاء تاليف سمرقندي 3/ 22، بدائع الصنائع 8/ 3954، المدخل الفقهي العام 1/ 329 الشرکات في الفقه الږسلامي تاليف علي خفيف 68 مخ

-1تحفه الفقهاء تاليف سمرقندي 3/ 25، بدائع الصنائع 8/ 3601، نهايه المحتاج 4/ 164، او المدونه الکبری 12/ 90 .

مخکني مصادر .

-1قواعد نورانيه تاليف شيخ الاسلام ابن تيميه 170 مخ، بدائع الصنائع 8/ 2587، بدايه المجتهد 2/ 236، او نهايه المحتاج 4/ 161 .

-1وګوره المدخل الفقهي العام تاليف مصطفی زرقاء 1/ 487، بدائع الصنائع 8/ 2631، او نهايه المحتاج 4/ 163 .

المدونه الکبری 12/ 114، المغني 5/ 45، الهدايه 3/ 167 .

-1الشرکات في الفقه الاسلامي 97 مخ کشاف القناع تاليف بهوتي 3/ 430، او نهايه المحتاج 4/ 168 .

تطوير الاعمال المصرفيه بما يتفق والشريعه الاسلاميه 395- 397 مخونه

الضمان في الفقه الاسلامي تاليف علي خفيف 5- 21 مخونه .

وګوره المهذب 1/ 414، المحلی 8/ 201، تبيين الحقائق 5/ 134، بدايه المجتهد 2/ 232 .

المغني 5/ 51، تبيين الحقائق 5/ 67، بدايه المجتهد 2/ 240 .

-2المغني 5/ 58، بدائع الصنائع 7/ 2541، تطوير الاعمال المصرفيه تاليف داکتر سامي حسن احمد 413 مخ

2داعدادو او نمرو نظام داسي دحساب لار ده چي په هغي کي دټولو پيسو دګټي اندازه زياتوالي او کموالي هره ورځ معلوميږي، دا پداسي شکل چي دهري ورځي عايداتي رسيد په هغو ورځو کي په ډيره ساده توګه ضربوي چي دا رسيد ورته رسيدلي وي، او پدي سره هغه عدد چي په نتيجه کي لاسته راغلي وي ديوي ورځي ګټه شميرله کيږي چي بيا دهغي سره نوري ورځي کومي چي پري تيري شوي وي ضرب ورکوي او پدي سره دټولي مدي دګټي اندازه راوباسي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تطوير الاعمال المصرفيه د ډاکتر سامي حسن احمد حمود له 414-417 مخ پوري

2د ډاکتر علي عبد الرسول هغه بحث چي د (بانکونه پرته دفايدي) څه تر عنوان لاندي ليکلي اونړيوال اقتصادي کنفرانس ته ئي واړاندي کړي 14مخ

تطوير الاعمال المصرفيه 425-426 مخونه

-1مخکني مصدر 428، دارنګه داهرام ورځپانه دګڼي رقم 32126 تاريخ 1974/11/25 اعلان شروط تمليك نوع فيات 1300

الدراسه المصريه 24 مخ

جامع الترمذي 3/ 533 حديث رقم 1231 .

مصنف عبد الرزاق 8/ 136 .

-1النواحي العمليه لسياسات البنوك التجاريه تاليف محمد نبيل ابراهيم حافظ 26 مخ دريم چاپ دار النهضه العربيه کال 1974

-1وګوره: تحفه الفقهاء 3/ 29، المحلى 8/ 248، تبيين الحقائق 5/ 70، القوانين الفقهيه 210 مخ او شرح الخرشي 6/ 217 .

تطوير الاعمال المصرفيه له 446-448 مخ پوري

الهدايه 2/ 120 .

مغني المحتاج 2/ 202 .

فتح القدير 6/ 323 .

رد المحتار 5/ 655 .

المغني 5/ 180 .

بدائع الصنائع 6/ 101 .

بدائع الصنائع 6/ 100 .

دمائده سورت آيت 2

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



2-حديث بزار روايت کړي له ابن مسعود څخه او طبراني له سهل بن سعد څخه روايت کړي حديث صحيح دی .

وګوره دقرطبي تفسير 33/6

وګوره دابن کثير تفسير 7/2

المجموع شرح المهذب تاليف نووي 9/ 353 .

الخرشي على مختصر خليل 6/ 147 .

وګوره المجموع شرح المهذب دنووي 9/ 353 .

اعلام الموقعين 1/ 40 .

مجموع الفتاوى 29/ 272 .

حاشيه ابن عابدين على الدر المختار 5/ 104 .

مخکني مصدر 5/ 105 .

المجموع شرح المهذب 9/ 342 .

مخکني مصدر 9/ 352 .

د الذاريات سورت آيت 22

د الذاريات سورت آيت 58 .

دمومنون سورت آيت 51 .

دبقرې سورت آيت 172 .

جامع العلوم والحکم 1/ 260 .

حديث مسلم روايت کړي 11/ 26 دنووي شرحه

فتح الباري بشرح صحيح البخاري 6/ 230 .

مجله الاقتصاد الاسلامي 1/ 281 د دبي اسلامي بانك

دبقرې سورت آيت 278 .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبقري سورت آیت 279 .

حديث مسلم روايت کړي وګوره دنووي شرحه 11/ 15 .

حديث مسلم روايت کړي وګوره دنووي شرحه 11/ 26

مصنف عبد الرزاق اثر رقم 18622

وګوره قضايا فقهيه معاصره تاليف شيخ محمد برهان الدين السنبهلي 22/ 23

وګوره: مجموعه فتاوی دار العلوم ديوبند 7 او 8/29- 33 .

مخکني مصدر .

حديث مسلم روايت کړي26/11 .

جامع العلوم والحکم 268 .

مجله الاقتصاد الاسلامي 1/ 59 د دبي اسلامي بانك

قضايا فقهيه معاصره تاليف سنبهلي 22 / 25 .

المجموع شرح المهذب 9/ 351 .

مجله الاقتصاد الاسلامي 1/ 59 .

دشيخ مصذفی زرقاء هغه مضمون چي دجدي په غونډه کي په کال 1979م کي وويل .

المجموع شرح المهذب 9/ 351 .

زاد المعاد تاليف ابن قيم الجوزيه 5/ 778 .

دبقري سورت آیت 278 - 279 .

وګوره دقرطبي تفسر 3/ 71 .

صحيح مسلم دنووي له شرحي سره 3/ 102 .

بخاري رقم 1410، او مسلم 7/ 98

حديث ابو داود په رقم 3508 سره روايت کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرح القواعد الفقهيه تاليف شيخ زرقاء رقم القاعده 87

وگوره: البنوك الاسلاميه بين النظريه والتطبيق تاليف ډاکټر عبد الله طيار 232 .

-1دابوهريره په حديث کي راغلي ديو سړي په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندي يو اوښ قرض و، هغه سړي يووخت راغي دخپل قرض غوښتنه ئي کوله، رسول الله امر وکړ چي ورئي کړي، هغوي چي وکتل نو په هماغه سن سال اوښ ئي ونه موند، بلکي ټول اوښان دهغه په پرتله غټ وو، رسول الله بيا امر وکړ چي همدا ورکړي، هغه سړي وويل: ښه وفا دي راسره وکړه، الله پاك دي له تا سره وفا وکړي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم وويل: ستاسو بهتر هغه څوك دی چي په قرض ورکونه کي ښه ادا وکړي" حديث بخاري په 2393 رقم سره روايت کړي .

حديث مسلم روايت کړي 4/ 160.

اعلام الموقعين تاليف ابن القيم 3/ 179.

حديث ابوداود روايت کړي

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**